کابل

6
Copy
9500D
2 Ja 64

پرله پسې ګڼه ۵۱۶

علمی اجتماعی او ادبی

تله (۱۳٤۱ش) کال د (۱۳۸۲ق) کال د ۱۹٦۲ کال سپټمبر او اکتوبر

شمېر	لیکنه	لیکوال	مخ
۱-	دشیخ الاسلام...	دالفت بیانیه	۱
۲-	نازو انا	محمد ابراهیم ثابت	٤
۳-	دپښتو معاصر شعر...	شپون	۱۲
٤-	که څه هم ځمکه زمونږ ځانګوده	دظاهر افق ترجمه	٤٤
٥-	نبوغ او عبقریت	محمد ایوب اڅکزی	٤۸
٦-	د زړه وینا	ادب دوست	٥۷
۷-	ګویته	دشجاعی ژباړه	٦۰
۸-	دیوه مین خاطره (کیسه)	عبدالله بختانی	۷

امتیاز پښتو ټولنې

مشر کل پاچا الفت

مسئول مدیر محمد صدیق روهی

دشیخ الاسلام خواجه عبدالله انصاری

دتلین په ورځ دالفت بیانیه

ښاغلو او مېرمنو !

ډیرخوښ یم چه په دې درنه اوستره ټولنه کښې چه د حضرت شیخ الاسلام خواجه عبدالله انصاری رحمة الله علیه دتلین په مناسبت شوې ده دپښتو ټولنې له خوا ګډون کوم او دیوه داسې لوی اولوړ شخصیت په یادونه او نمانځنه کښې برخه لرم چه زمونږ دهیواد له علمی اوعرفانی مفاخرو څخه دی او په عرفانی نړۍ کښې ډیرهسک مقام لری .

دعلم اوعقل خاوندان هرچیرته اوهر کله لږ اوډیر پیدا کیږی مګره کشف اوالهام خاوندان په اسلامی نړۍ کښې دومره وړیا اوارزانه نه دی .

خلقت ددغسې خلقو په پیدا کولو اوجوړولو کښې ډیرلاس نیولی دی .

بی حسابه ځاځکې توی په بحرو بر شی

له لکو نو کروړو نو یوګو هر شی

صاحبدلان د دماغ دخاوندانو په شان دعادی پوهې زده کوونکی نه دی بلکه دخارق العاده پوهې راوړ ونکی ، روزونکی اوښوونکی دی .

هغه دزړه الهامی پوهه چه عارفان اوسا لکان یې د خدائی عشق په رڼا کښې دشهودله لارې پیدا کوی له هغې ړندې پوهې نه ډیرفرق لری چه ړانده ئې هم دالفاظو

او کلماتو په زد کړه حاصلولی شی .

هغه څه چه دروح په تزکیه دانفسو اوافاقو په سیر یوه صاحب حال ته داغراق په حال کښی له لوړ عالم څخه د مکاشفې په ډول لاس ته ورځی له هغه څه نه ډیر عالی وی چه نورئې د مځکې په مخ د سر په سترګو وینی یائې دقال له خاوندانو څخه په عادی حال کښې اوری .

شیخ الاسلام خواجه عبدالله انصاری دهمدغسې آسمانې پوهې خاوند ؤاود غه پوهه ئې په ډیرو خوږو اومؤثرو الفاظو کښې مو نږته دهد ایت دلار ې د رو ښانه مشعل په حیث پریښو ده.

مونږ دده ویناته په عادی نظر نه ګورو اوداویلی شوچه:

این همه آواز های شه بود

ګرچه ازحلقوم عبدالله بود

زه ددغه ستر اومهم شخصیت یادونه دتصوف او عرفان اودعالی ادب نما نځنه اوحق پیژندنه ګڼم.

دامبارك اقدام دوطن د معنوی اوعلمی مفاخرو په ژوندی کولو کښې ستره برخه لری چه دپوهې اوبصیرت خاوندان ورته په درنه سترګه ګوری.

چاچه جهان ته بینائی اودانائی راوړې چا چه عالم ته په تورتم کښې رڼائی راوړې

چاچه لیمو لره رانجه اوسلائی راوړې چا چه دزړونو آینې ته صفائی راوړې

هغه په سترګو اوپه زړونو ډیرحقونه لری

دسترګو رو په نظر کښې ډیرقدرونه لری

په پای کښې ددغه بزرګوار عارف سپیڅلی روح ته تحیات استوم او خپله وینادیو څو بیتونو په لوستلو چه په دغه مناسبت ویل شوی دی ختموم : -

چاجهان ته تش کدو غوندې سرراووړ چاپه‌سر کښې فکر لوی لکه‌غرراووړ
چادخلکودامیدستر ګې ړندې کړې دهرات پیر ورته نوی نظر راووړ
چاد شمعې په شان یو کور رڼا کړی ده‌سحر غوندې له‌ځان سره لمرراووړ
انسانی فکر ئې جګ کړ تر افلاکو بشری‌پوهې ته ئې هسې وزر راووړ
چاد خدای قهر و غضب راووړ عالم‌ته ده‌د رحم او کرم ښه خبرراووړ
بو ښاخ ګوره تش کو تك شی د و هلو بل‌شاخ ګوره چه‌ئې سیوری ثمرراووړ
له یوه لرګی‌نه دار جوړ شی بل پول شی چاله ځان‌سره‌خیرونه چاشر راووړ
چاکړه‌زیا ته دښمنی په‌دې عالم کښې چا پیغام دمحبت دبشرراووړ
دچالاس کښې تیره‌توره ده ګوابښیزی چاد پوهې او د فکر هنر راووړ

هغه مه هیر وی‌ء هیڅکله عالمه!
چه عالم ته ئې د مینې اثر راووړ

لیکنه اوخیړنه .

نـــازو انـــا

میرمن اونارینه دجهان د ودانۍ دوې ستنې دی چه د اجتماع بقا په دوی دواړو پورې تړلې ده. خوځینې داډول میرمنې هم وی چه پر نارینه باندې پیاوړې اوله هغه څخه ددې شان ډیر لوړوی .

دونیا هغه لوی او ستر نوابغ چه بشری ټولنه ددوی کار ناموته په حیر انتیا ګوری اودنړۍ خلك ویاړ اوفخرپه کوی، اوددنیا سیر ددوی دفکر او عمل په نتیجه کښې دتکامل اومدنیت خوانه پړ مخ درومی هغوی ټول ښځو روزلی دی او دخپلو میندوله غیږو څخه راپورته شوی اد نبوغ لوړ مقام ته رسیدلی دی.

که څه هم ښځه په بشری ټولنه کښې دنسل دبقاپه لحاظ یوغړی اوله دووستنو څخه یوه ستنه بلله کیږی خودنسل اوځوځات د لومړنۍ روزنې په لحاظ له نارنیه څخه ددې وظیفه زیات ارزښت اواهمیت لری .

ځکه ښځه دخپل اولاد د کوچنیتوب په موده کښې د خپل اولا دد حمایې او حفاظت د پاره دومره ربړاو تکلیفونه پرځان ګالی چه دهیڅ یوه نار ینه له وسه هعه نه راځی .

نوهرو مرو باید وویل شی چه داولا دښه روزنه چه دهغه په جسمی اوروحی حالاتو کښې تاثیر لری یوا زې یوازې دمور کاردی نه دپلار .

نوورو سته چه‌نابغه اولوی سړی ورڅخه جوړیږی ـ هغه‌هم باید دمور دړومبنی روزنې آثار وګڼل شی. دلته چه‌موږ دیوې پښتنې میرمنې له احوالو څخه بحث کوو هغه‌هم داسې یوه میرمن‌وه چه د کمال اولیاقت اوښو صفتونو خاونده‌وه او داویلای شوچه زموږ دټولنې په‌سر نوشت کښې د اقبال دستوری په شان ځلید له. دامیرمن ـ نازوانا ده.

ناز وانا ـ یوه نامتو پښتنه‌وه ـ داپښتنه‌په‌خټه توخې‌ا ودسلطان‌ملخی توخی‌لوروه.

دتوخی دنسب سلسله په‌دې ډول ده: توخی بن باروبن‌تولربن غرځی‌بن‌شاهزاده هسین (١) غوری‌چه داشاهزاده‌د (سهاك ـ بیوراسپ) نبیره اوځو ځات دی.

سلطان ملخی یونومیالی پښتون‌و. نوموړی پخپل‌وخت کښې دقوم‌یوملی‌مشرو دده ځای د کلات د کندهار په سیمه کښې و ـ اود کلات شرقی‌خواته‌دو ولس کروه لیری دده داوسیدنې ځای و.

دتا زی درباط په محاذات دترنك دسین جنوبی خواته دده ځای‌و . ده‌هلته یوه جګه اومستحکمه کلالرله په‌دغه کلا کښې به‌اوسیده.

---

(١) ددغه غوری شاهزاده نوم ما «هسین» راوړی دی. اوښاغلی رشاددانوم «او سین» بولی اوښاغلی رښتین دانوم (اوسین ـ اوشین) وایی ښاغلی رشاد وایی ـ (اوسین) په سانسکریت کښې دهغه ستوری نوم دی‌چه دسپوزمی په‌مدار کښې‌واقع دی. خووروسته په (حسین) او ښتی دی او ښاغلی‌رښتین‌وایی «دانوم په‌اصل کښې (اوسین ـ اوشین) وچه ـ مسور ځای‌ته‌وایی اوپه‌غرجستان کښې دښار نوم‌راوعربی مورخینودا ښار (افشین) کړی‌دی. وروسته یی بیادانوم په (حسین) اړولی‌دی.

زه‌وایم ـ دغوری کورنی داجدادو ـ نسب په‌سلسله کښې دا نوم (هسین بن‌بهرام بن جحش بن‌هسن) راغلی دی. خوداسلام په‌عصر کښې دانوم په‌حسین اوښتی دی خودټولو نظر په داسې ده‌چه د (غرجی = غرځی = غلجی اوغرجستان = غرځستان) نومونه چه‌دیوه پښتون کهول او دهغو دمېنې نومونه دی تراسلام څخه پخوانی اووړاندی دی‌اوددوی دنېکه نوم‌هم دیرلرغونی دی چه وروسته په بله‌بڼه اوښتی‌دی.

وا یی دی دقوم مشرو- اوله غزنی څخه تر کلاته پورې پښتانه دده امر تابع وو، دی یې خپل مشرګانه اودده مشرتوب یی منلی و .

دنازو په باب کښې دسلطان ملخی پاملرنه:

وایی د نازو پلارد خپلې لور (نازو) په لوری ډیره پاملرنه کوله دنازو پلار چه دقوم اوولس مشراو لوی سړی ونود خپلو اولادونو روزنې اوښې تربیې ته یی زیاته توجه لرله اودخپلې لور نازو په علمی روز نه کښې به یی زیات کو ښښ کاوه. وایی چه د (نازو) دعلمی روزنې دپاره یې فاضلې میرمنې اوسپین زیری علمامقرر کړی ووچه نازو ته به یی درس وایه دپلارددغې توجه په اثراو نتیجه کښې نوموړی نازو لو ستل اولیکل ښه زده کړل اوښه عالمه ورڅخه جوړه شوه.

نازود و لس داری خاونده شوه:

وا یی:هغه و خت چه دنازو پلار سلطان ملخی مړ شو- او ددې ور ور (حا جی عا دل خان) هم له کوره جلاو مړ شو- نو د کو رو کلی سا تنه او و لس دار ی نازوته پاتې شوه .

نازو چه دیو نامداره اودقوم اوولس لرونکی پلارلوروه اودپښتنی عنعنې لهمخې دپښتنو مشران او نامداره پښتانه دخپل مشرتوب اوخپلې ولس داری اوخپلې میلمه پالنې ددود ساتنه ډیره مهمه ګڼی او نه غواړی چه په ملی عنعنه کښې یې تغییراو نیمګړې تیارا شی نومیرمن نازوته چه دپلار او ورور څخه دهغوی نوم او نښان او دپښتنو داعنعنوی دود پاتی شوی ودخپل مهربان اوغمخور پلارله خوایې ښه تربیه هم موندلې وه اویوه عالمه ورڅخه جوړه شوې وه اودخپل فطری اومورونی استعداد له حیثه هم دعالی اولوړ فکر خاونده وه- میدان ته راوته اود پښتنو په اصطلاح «یوه میړه مخه میرمن» شوه.

دیو میره اوزلمی پښتانه په ځیریي توره تر ملا وتړله او له نو رو ننګیا لیو تربرو نو سره‌یې د خپل ټاټوبی مدافعه و کړه اود خپل نو میا لی پلا رد تور ی‌او توریالیتوب اودمیلمه‌پالنې نوم یې‌وساته .

وایی چه‌میرمن نازوپه ډوډی ور کولواو له غریب اوپردیس‌سره په مرسته او زړه سوی ډیره مشهوره شوه. هروخت به ډلې ډلې مسافران راله‌او دپردیسا نو قافلې به هر کله دمیرمن نازو د کلامخې‌ته پنډې وې دنازو کلا پرهغې پخوانی اوعمومی لویې لارې واقع وه چه‌له غزنی څخه کندهارته دترنك په جنوبی خوا دملخی د کلا ترمخ تیره شوې اوسیوری ته‌نللی ده‌اوارغسان او کندهارته رسیدله. دمیرمن نازو دسخاوت نوم په‌لږه موده کښې‌تر کوسانه خپورشو (۱).

له‌میرمن نازو سره دښالم‌خان ازدواج:

میرمن‌نازو چه‌دیوه نومیالی پښتون سلطان ملخی توخی‌لوروه‌او پخپله‌نومیالی اوننګیالی پښتنه‌وه چه‌دخپل پلار تر مړینی وروسته یې دعلم او پوهې او لیا قت له‌حیثه‌خورابنه‌نوم‌کټلی‌ونو بایددخپل وخت دیوه‌لوی کاله‌له یولوی سړی سره‌یې از دو اج کړ ی وای. هغه وچه دپښتنو دیوه مشهور او اشرافی کهول څخه یې ښالم خان نومی‌هوتك‌سره دواده تړون و کړ. ښالم‌خان دباباهوتك اوشیخ ملکیار له‌ځوځات او کورنی څخه و چه دغه کورنی دپښتنو ستانه اوخورامشهوره کورنی وه.همداوه چه‌دسیالی اونسب. مساوات‌اوبرابری له مخې دنازواوښالم خان‌ترمنځ موافقه راغله اوله ښالم‌خان سره‌یې واده و کړ .

میرویس‌نیکه دښالم‌خان‌مشرزوی ؤ

میرمن نازو چه له ښالم‌خان سره واده و کړ میرمن نازوته خدای (ج) څلور زامن ور کړل چه مشرزوی‌یې میرویس‌ؤ .

---

(۱) پټه خزانه (۱۷۷) مخ.

بناپارټ وايي: «که ښځه نه وای ددنيا نوابغ به چاروزلی اوپاللی وای»

ولټر وايي: «دښځی غيږ دبشر لومړی ښوو نځی او دسړی جوړ ولولو مړ ی کارخانه ده.»

لوی اسکندر وايي: «په هر کور کښې چه ميرمن نشته دسعادت فرشته هلته قدم نه ږدی» اوميرويس هغه نابغه اونوميالی پښتون دی چه په خپل سياسی تدبير اوتيره توره يې پښتانه اودپښتنو خاوره ازاده کړه اوپه دې لاره کښی يې هغه تدابير اوجانبازی وکړې چه ټوله دنيادده ددغو محير العقولو کارنامو له امله پرده تحسين اوآفرين وايی او دنيايې يو نابغه بولی. دپښتانه نوم يی آسمان ته پورته کړ اودغزنويانو په شان يې بيادپښتنو برم پرځای کړ.

ميرمن نازووه چه داډول يوغښتلی اومنلی نابغه يې پښتنی ټولنې ته وړاندې کړ. نودبناپارت خبره رښتيا ده ځکه که ميرمن نازونه وای نو ميرويس غوندې اتل اونابغه به له کومه وچه پښتون يې له ذلت اوغلامی څخه خلاص کړی وای.

اولکه لوی اسکندر چه ويلی دی «په هر کور کښې چه ميرمن نشته هلته دسعادت پرښته قدم نه ږدی» رښتياچه د پښتنو په منځ کښې اوددوی په لوی کور افغانستان کښی چه ميرمن نازونه وه پيدا شوې نودلته دسعادت پرښته نه وه خوچه ميرمن نازو پيدا شوه او ددې په غيږ کښې ميرويس غوندې پښتون وروزل شو. نو پښتنو ته دنيکمرغی پرښته راغله اونيکبختی اوسعادت يې دپښتانه په برخه کړ.

ميرمن نازو يوه عالمه اوعابده اوصالحه ښځه وه:

دپټې خزانې مؤلف روايت کوی. چه ميرمن نازو به هيڅ وخت خپل اولاد ته بی طهارته اوبی اوداسه شيدې نه ورکولی. (۱)

---

(۱)- پټه خزانه ۱۷۷ مخ.

یو دې عکس کښې دپښتنو کوچیانو دژوند یوه صحنه لیدل کیږی .

(دمطبوعاتو عکاسی)

دمیرمن نازوادب:

وایی میرمن نازو چه‌پخه ښځه شوه نوسربیره پرپور تنیو ښېګڼو دعلم‌اوادب سره‌یی هم ټینګه علاقه وموندله اوپه لږه موده کښې نوموړی شاعره شوه. دپټې خزانی مؤلف وایی «زماپلار هسی ویل: «نازوانا» علاوه پرسخاوت او شجاعت او عبادت هسې ارتینه وه چه دخدای تعالی په مناجات کښې یې ډیر اشعار ویل او یودیوان یې درلود چه دوه زره بیتونه پکښې وواوهلته یی‌ښه نکات ادا کړی‌دی اوداسې‌یې ویلی دی چه‌ډیر خلك یې نسی ویلای. اودارباعی چه‌د نازو انادەماله خپل پلار څخه ارویدلې ده الحق چه‌ښه‌رباعې ده وایی:

سحرګه وه دنرګس لیمه لانده ‌ ‌ ‌ څاڅکی څاڅکی‌یې‌له سترګو څڅیده

ماویل څه‌دی کښلی ګله‌ولی ژاړې؟ ‌ ‌ ‌ ده‌ویل‌ژوندمې‌دی یوه خوله‌خندیده»

دمیرویس نیکه دکتاب مؤلف ښاغلی بینوا لیکی:

همدا پورتنی‌فکردی چه‌داوسنی‌عصرمشهور شاعراو فیلسوف«اقبال» په خو ږو الفاظو کښې ادا کړی دی وایی:

شبی زار نالید ابر بهار ‌ ‌ ‌ که این زندگی گریه پیهم است

درخشید برق سبك سیرو گفت ‌ ‌ ‌ خطا کردهٔ خندهٔ یك دم است

ندانم بگلشن کی برداین‌خبر ‌ ‌ ‌ سخنهامیان گل وشبنم‌است (۱)

او ددې میرمنې نورې معرفۍ ته حاجت نشته یوازې دغه فخریې بس‌دی چه پښتانه ملت ته یې دمیرویس په‌شان نابغه او ننګیالی تقدیم کړی دی چه دوطن دآزادۍ تاریخ به هیڅکله دده کار نامې هیرې نه کړی.

---

(۱)- میرویس نیکه ۲۹ مخ.

دمیرمن نازو خوب لیدل :

هغه وخت چه میرویس نیکه وزیږید ـ موریې نازو انا په همغې لومړۍ شپه داسې خوب ولید چه حضرت بیټ نیکه نازوته وویل: «زمالورې! ـ دا ز و ی ښه تربیه کړه ـ کوم وخت چه ستا داز وی لوی شی لوړ کارو نه به انجام کړ ی ـ حج ته به ولاړشی» او ور ته وایی :« زما لورې ! ددغه هلك په روزنه ا و تر بیت کښې غفلت ونکړې ددهله نسل څخه به نیك پاچا ها ن پید ا شی چه د ین ته به رڼائی ور کړی ـ دده په تربیه کښې ښه زیار باسه او دقت کوه او دده پر اوږ و دلویو لویو کارو انجام پروت دی . »

او میرمن نازوچه رښتیانی صالحه ښځه وه اودښې برخې او ښه قسمت خاونده وه چه دا خوب یې ولیدنو سر بیره پرمورنی عطوفت یوه بله مخصوصه علا قه یې هم له دغه خپل زوی سره پیدا شوه چه دپښتنو لوی نیکه یې سپارښتنه پرو کړه . نودمیرویس په روز نه کښې به یې ډیر دقت کاوه څوچه میرویس ددغې ز مر ی روزونکی له غیږې څخه پاڅید زلمیتوب ته ورسید . او چه میرمن نازو پخپله یوه عالمه او یوه میرمن وه ددغه زوی له شپږ کلنی څخه یې ددهپه تعلیم شروع وکړه دینی او مذهبی ضروریات یې ورزده کړ ل .

او هر وخت به یی و ر ته ویل : « زویه دبیټ نیکه له خولې څخه تاته ډیر لوی لوی کارونه ګوری چه باید انجام یې کړې» اوورته یی ویل « چه لو ی شې دلوی خدای عبادت کوه او د خدای دخلکو خدمت کو ه .

زویکه ! ته خدای ددې دپاره پیدا کړې چه لوی لوی کارونه سرته ورسوې او ستاخپل قوم اوولس ستاترسیوری لاندې ستادخدمت اوزحمت په اثر آرام واوسی .»

دغې لویې اوعالیشانه میرمنې هم دخپل نیکه وصیتونه میرویس ته تلقین کړل او نور یې خپل عالمانه مهم وصیتونه هم ورته وکړل او دمیرویس پرخپل فطری همت یې نور هم زیادت راوست .

لکه چه وایی میرویس چه ځوان شوه به هم په هرمجلس کښی دخپلې ګرانې مور نازو انا داتو صیې یادولې او ویل به یې . «زما مورماته دلویو کارو انجام کولو وصیت کړی دی اوزه باید زیار وباسم چه دموروصیت پرځای کړم اوله خدایه توفیق غواړم (۱) .»

---

(۱) پته خزانه ۱۷۷ مخ

سعدالدین شپون

د پښتو معاصر شعر ته

یوه کتنه

د و یمه مقاله

په پخوانی مقاله کښې مې دپښتو دشعر ددریمی دورې لومړی مرحله،شکل او محتویاتو له نظره و کتله اوس به ددویمې مرحلې پهشعر اوشاعری څهولیکم :

کله چه په کندهار کښې پښتو ادبی جرګه جوړه شوه نو داول ځل ه پار ه پښتنو لیکوالو او شاعرانو ته یو مرکز پیدا شو او ټولو ورته مخه و کړه .

بیاچه له ۱۹۱۳ څخه وروسته داجرګه کابل ته راغله اود انجمن ادبی کابل سره مله شوه نوپه کښې دوه ډوله تغییرونه راغلل (۱)ساحه یې پراخه شوه ا و دننګر هار نور لیکوال ورسره یوځای شول (۲) بالاخره او پس له ډیرې مودې پښتو اوفارسی ،دوو مساوی رفیقانو او(په عین حال کښې رقیبا نو)په حیث یو بل ته مخامخ ودر یدل .

ددې دوو تغییرونو سره پښتنو لیکوالو ته ځینې مسئولیتونه متوجه شول چه ډیر مهم یې دپښتودلیکوالی دسویې او چتول وو . پښتو د یوې داسې ژبې سر ه مخا مخ شوه چه له پیړیو راهیسی صیقل شوې او د عر بی عر و ضو په ساحه کښې یې شاهکارونه ایجاد کړی وو . حال داچه د پښتو عروضی پښګه ډیره لږه وه او د

پښتو داشعارو دپانګې زیاته برخه لا په ملي وزنو او قافیو ویل کیده او دد ې زیاته برخه لالیکل شوې نه وه او دلنډیو - چار بیتواو نورو ملي اوزانو په شکل کښې د خلکو په ماغزو کښې پرته وه .

پښتانه شاعران یویو دغه مرکز ته راتلل او د پښتو نخواله غرو ر غو - د ښتو او کڅو ، جوماتو او حجرو څخه لـکه پتنګان د پښتو مشعل ته راټول شول . په دغه وخت کښې په افغانستان کښې د پښتو درې مرکزونه موجود وو چه یو په کندهار کښې او دوه نور په کابل او ننګرهار کښې و و .

د ننګرهار - اتحاد مشرقي - د پښتنو دفکر دانتقال ډیره قدیمي وسیله وه او ښایي چه د غـه حقیقت دې واقعیت سره مرسته کړې وی چه په را و روسته کلو کښې په ننګرهار کښې ډیر لیکوال مینځ ته راشي .

اوس به ددغې مرحلې یوڅو شاعران یاد کړو او دابه داسې شاعران وی چه په هغه وخت مطبوعاتو ته داخل شول یا په مناسب عبارت دمطبوعا تو سره مینځ ته راغلل او ځینو خپل شهرت ترنن ورځې پورې ساتلی اوداوسنی پښتو نخوا نامتو شاعران هم د ی :

سیدحسن ، ملامحمدګل دللمې، حبیبی ، مستغنی، زمریالی ، جلالـی ،بلبل افغا ن ،خادم ـمخلص ـسید حسین منتظم، مسلم ، الفت ، جرار ، بینوا ، رښتین سلیمی ، پژ وا ك، پر هیز.

خو پخوا تر دی چه د دوی د کلا م نمو نی و ر کړ م د د غه عصر د فکری میلا ن په بار ه کښې به په لنډ شا ن و غزیږم .

شعر په عین حال کښې چه دیوه عصر دښکلا ارزښتو نه موږ ته راښیی دهماغه دبارزو افکا ر و او متداولو ذهنی مشغو لیتو د یوې برخی هیندا ره هم ده . که زمامقاله

ددې فکر و نو دایجاد اقتصادی او اجتماعی عواملو درابرسیره کولو په باب کښې وای مابه دافکرو نه تحلیل کړی واو هریو به مې ببرته خپل منشاته بیولی وځکه فکر و نه هم هسی پخپل سر او تصا دفی نه پیدا کیږی همدا سی چه که زمو ږ ساړه ونشی داور دلګو لو فکر موږ ته نه را پیدا کیږی په ټولنه کښې هم تر څود یوه فکر احتیاج نه وی ایجادیی نه کیږی او که یی ایجاد تصادفی شی وبولو نو بیا عامیږی نه . خو دخپلی مقالی دهدف دتعقیب دپاره به دافکرو نه د بیلو بیلو واحدو په توګه په شعر کښې یوازی وبنیم او دتحلیل څخه به یی تیر شم .

دیوه عصر په شعر کښې یوازی یو فکر په ګو ته کول او نور ټول فکرونه چه ددې عصر په اشعارو کښې پیدا شی دهغه مولود او مرستیال ګڼل زماپه عقیده درست کار نه دی ساده مثال یی دپښتو دادب دویمه دوره ده که موږ ورته د تصوفی فکرعصروایو نو خوشحال چیرته په کښې ځای کړو او که یی دملی مبارزاتو عصر وبو لو درحمن شعر څرنګه تحلیل کړو . هلته هم یوازی یوفکرد مرکزپه حیث نه واو زموږ د دریمی دوری دویمی مرحلی په اشعارو کښې هم یوازی یو فکر حاکم نه دی بلکه ډیر فکر ونه کله په جلا جلا صورتو او کله بیا په ترکیبی حال په پښتو شعراثر کوی . کوز به یو څو بارز فکرونه وګورو .

١ ـ دا فغانستان د اعتلاء فکر : دافکر اکه په تیره مقاله کښې موچه اشاره ورته کړې وه افغا نستان ته زاغی او ددواړو مرحلو شاعرانو شعارشو « افغانستان په وړاندې » دافکر په لو مړی سر کښې په درو بیلو بیلو فکر ووبشل کیږی .

(١) دا فغانستان ملی اتحاد (٢) صنعتي پرمختګ (٣) مذهبی نهضت

(١) ملی اتحاد: دا فغا نستا ن تاریخ که و کتل شی ګوروچه د مختلفو اقوامو تر منځ یوه غیرشعوری خپلوی موجوده ده . ټوله افغانا ن دپښتو ن نه نیو لی تر

اوزبك او هزاره پوری سره یو دی کله چه یو اوزبك په هندیا ماوراءالنهر کښی د پښتانه سره محامخ شوی دواړه پوهید لی چه دیوه ملک دی او ددوی دواړو پس منظر یو دی. ملا تواب ګل یو پښتون دی چه ډیر عمر یې په هند کښی تیر کړی او لس کاله کیږی چه بیر ته وطن ته راستون شوې دده یو اوزبك ملګری دی چه جوره قل نو میږ ې. یوه ورځ مې ددوې دواړو نه ددوی د ملګری علت وپوښته. ملا تواب ګل ویل چه «جوره قل اصل کښی د مزار دی چه په وړو کتابه کښې د پلار سره سمرقند ته تللی او هماغلته لوی شوی و هماغلته یې واده هم وکړ دا کتوبر تر انقلابه وروسته جوره قل له آمو را تیر شو او پس له یوه کاله د تجارت د پاره هند ته راغی. لس کاله دواړه په هند کښې وو. زه ورسره اشنا شوم. دما جلا وطن د پاره جوره قل هم ښه و. په ژبه نه سره پوهید وخو دواړو لږه پاړسی زده وه. یوه ورځ له کابل نه یو خط راغی چه جوره قل ته یې لیکلی وو چه راشه پچه دی خنلې. جوره قل خط ما ته وښو دا و په ستر ګو کښې یې دخوشالی نه او ښکې ډنډوې. ویل یې «شکر خدا یه چه زه هم ملك لرم. عمرونه عمرونه مې په پردو ملکو کښې تېر کړل. ماویل چه هیڅوك به مې خپل نه کړی. شکر چه وطن لرم او خدمت ته مې غواړی» هم یې او ښکی تو یېدې او هم یی شکرونه ایستل په هماغه ورځ یې ځوړ وکی بار کړل او کابل ته روان شو. زما هم بل کال پچه وخته او راغلم».

داوه دجوره قل واقعی کیسه وروسته چه مانورې خبرې ور سره وکړې یوه شوم چه هلته په سمرقند کښی یې ښځه کوله نود یوه کابلی لوریې وکړه او راته معلومه شوه چه هلته یوه افغانی «کولونی» دټولو هغو خلکو له خوا جوړه شوې وه چه د آموله سینده تیر شوی وو. په هند کښې هم داسې کار تې

موجود ې وې چه هلته خراسانیان «په هند کښې افغانان یو بل ته خرا سا نـی وایـی» او سیدل .

دپورتـنی کیسې دذکر څخه زما مطلب دهغې مزی ښودل وچه په غیرمرئی ډول یې دافغانستان بیل بیل قومونه او نژادونه د یو واحدمحورسره تړلی دی. خودا د یووالی احساس چه پخوا غیر شعوری وپه دې عصر کښې ارادی او شعو ر ی شو پخواهم (دپار دریا) ماوراء النهر- هندوستان او ایران اصطلاحات د خلکو په مینځ کښې د افغانستان د سیمې د جلا کولو دپاره ا ستعما لید ل ا و کله به یې دپیښور شرقی خواوې د« کښته ملکونو » په نا مه یا د ولې چه هغه په افغانستان کښی نه راتللې . خو په د غه عصر کښې د افغا نستان خاوره له نورو هیوادو څخه لمنې نغاړی او دیوه مستقل - بیل او تاریخی واحد ملت په حیث میدا ن ته راوځی . ادبیات هم (لکه څنګه چه دلومړی مرحلی شعرو نه مو ولید ل) دغه شعوری واقعیت ته استجابه کوی او افغانستانی شعرمینځ ته راځی .

(۲) پـرمختـګ: په شرق کښې د شلمې پیړ ی او په غرب کښې د نونسمې پیړی یوه لویه خاصه د یوه نوی جریان شرو ع کید ل و چه هغه د پر مختګ جریان دی . بشر دخپل تاریخ په سیر کښې تـل صعودی میلان لرلی دی . خو کله کله څو قرنه دیوه سقوط سره هم مخا مخ شوی دی .

دلاتین حوزې تیاره عصر او داسلامی حوزې تصوف اور کود عصر زما د کلیې ثبوتونه دی . په اورپا کښی دنونسمې پیړی سره سم او دبخار دماشین د کشف نه وروسته صنعتی انقلاب راغی چه یوه نتیجه یې داروپایانو هغه تلاش شوچه دتجارت بازار دپیدا کولو اوداومومواد ودراغونډولودپاره یې درلود . داتلاش بالاخره دوی دنورو هیوادو استعمار او استثمارته راکاږی . اولومړی یې شرق ته مخه رااوړی

چه داوموموادوله نظره غنی اوددوی دتولیداتو اورقابتو ښه بازاردی .

هرعمل یوعکس العمل لری نوداروپایانودغه عمل هم په شرق کښې یوعکس العمل تولید کړاوده «پرمختګ» فکریې ایجاد کړ د پرمختګ ځواب په پرمختګ. داعکس العمل اوس په خپل جدی شکل په چین، شوروی اتحاد، هنداوعربی هیوادو کښې تظاهر کوی . البته دپرمختګ دپاره چه یوه بشری خاصه ده داستعمار سره دمجادلې علت وړاندې کول درسته نه ده خرد پرمختګ شعوری هڅه چه اوس یې په شرق کښې ګورو اوزموږ ددریم عصرسره په افغانستان کښې شروع کیږی یووازد شوی عنصرلری چه هغه داستعمارسره مجادله ده. د دې مجادلې دپاره « پرمختګ » حتمی و او دپرمختګ دپاره دهیواد دمادی طاقت څخه کار اخستل او دوطنی مصنوعاتو مینځ ته را وستل په کارو. نو دادترقی او پرمختګ میلان هم شعرته ور داخل شو.

(۳)- مذهبی نهضت : اوس ملتونه دتاریخی (کلتوری) ژبنی- جغرافیی او مشترکو منافعو په اساس جوړیږی . په بیلوبیلو هیوادو کښې ددې څلور ګونو عناصروڅخه یوڅو موجودوی اودملت دشیرازې ټینګول تأمینوی. خوپه پخوانو وختو کښې یوبل قوی عنصرهم وچه هغه مذهبی وحدت و. مذهب تل دیوې ډلی خلکودراغونډولوپه چارو کښې لاس لرلی دی دافغانستان حلك په مذهب ټینګ ولاړدی. نوپه دغه عصر کښې مذهبی تبلیغات هم په شعر کښې داخل وو. د دې تبلیغ یولوی علت هغه اسلامی تبلیغ وچه په شرق کښې داستعمار سره دمجادلې دپاره په پراخه پیمانه شروع واوپه ټولو اسلامی ملکو کښې یې طرفداران لرل . دمصر اخوان المسلمین اود هند اسلامی خلافت حتی په افغانستان کښې هواخواهان درلودل . داقبال په اشعارو کښې د دغه اسلامی نهضت انعکاسونه ګورو . داقبال

تأثیر دافغانستان دشاعرانو په تیره د ننګرهاری شاعرانو په کلام کښې ډیر ګورو . خودلته باید یوه ټکی ته پام وشی اوهغه داچه په دغه عصر کښې مذهبي نهضت هم دیوډول انقلابی حرکت حیثیت لاره اوهدف یې داستعمار ډنجو څخه دشرق خلاصی و. وروسته بیا استعمارچیانو دغه آله دمسلمانانوله لاسه واخیسته اود دوی پرضد یې استعمال کړه. انګلیسان د مذهبی مبلغینو په ماسك په اسلامی هیوادو کښې خواره شول اودخلکودمبارزې حس یی په مذهبی دلایلو اووسایلو وواژه مطلب داچه دمذهبی نهضت انعکاس هم دد ې عصرپه شعر کښې ګورو . دمذهب ډیره انقلابی بڼه اوډیره ارتجاعی بڼه دواړه په دغه عصر کښې موجود دی . کله داسلام دترقی اودصدر اسلام صفاتو یادونه او کله درحمن دتصوف خواته هڅه ده. په شعری دنیا کښې هم یودتکامل اوتحول قانون موجود دی چه ډیر کله دمحقق له نظره لویږی محقق دهرادبی تحول اقتصادی او اجتماعی عوامل پیدا کوی او بیایې د هغې معلول بولی . خو محقق یوازې د اجتماعی او اقتصادی عواملو په څیړلو دیو عصرشعرنشی تحلیلولی اود اځکه چه هنر ځانله د تحول اصول لری چه هرباندنی اثرلومړی په هغې برابرې بیایې اخلی . دغه دشعر ذاتی خاصه ده چه همیش دیوه عصرپه متضا دوفکرو کښې یوډول انتخاب کوی . هغه چه یې په ناموس برابروی را اخلی اوچه برابرنه وی ترې تیریږی .

د Survival of The Fittest یابقای اصلح قانون دیوه عصر په ادبی عنعنه کښې موجوددی چه دهغه په اساس ادبی یوډول شکلونه اوادبی نوعې مینځ ته را ځی اوبل ډول له استعماله لویږی . په همدې ترڅ کښې که محقق په نظر کښې ونیسی چه دیوه عصر ډیرانقلابی اومترقی فکرپه ادب کښې تجلی کوی دده د تحقیق سره به مرسته وکړی . دیوه عصر ادیبان پخپله سره پوهیږی چه کوم شاعر مترقی شعر وایی

او کوم یو ارتجاعی. هغه چه اصلح او مترقی وی دهماغه عصر شعری لارشی اود دوی پخپلو محفلونو کښې خپله په خوله ګرځی اوچه بیرته پاتې وی ترچاپ وروسته دادیبانو هیر شی . مذهبی افکار هم ترخو د یوه عصر د ترقی دپاره کار کوی په ادب کښې بې هر کلی کیږی او که سمت یې قهقرایی اومخ په ځوړوی یاد ترقی په لار کښې خنډ پیدا کوی نو نه یوازی هنری احساس نه را پا روی بلکه دهغې ضد احساسات راپاریږی ترشلمې پیړی که لږ دتاریخ پلوواړو زموږ په پورتنی ادعا کښې به لوستونکی ته څه شکونه پیدا شی او داسې مثالونه به یې ذهن کښې وګرځی چه هلته مذهبی ارتجاعی افکارودادب لمن ډکه کړې ده. البته د ازما دمقالې دهدف څخه دباندې دی چه داثابته کړم چه هلته هم دمذهب داسې قیودات چه دخلکو دطبیعی کړنو سره یې مغایرت لاره په بیلوبیلو لهجواوپه ادبی کنایو اولفافو کښې دتل شوی دی اووروسته بیا دمجازی او حقیقی نومونه ودباندی تپل شوی دی .

خود دومره وایم چه هر کله چه یومذهب یو کلچر ته وارد شوی دی نو یې یا کلچر حل کړی اویاپه کښې حل شوی اویاددواړو دامتزاج څخه یو بل مسلك چه په ظاهر کښې یې دوارد شوی مذهب نوم غوره کړی ایجاد شوی دی . که مذهب تروارد شوی کلچره مترقی ونو کلچر په کښې حل شوی او که ارتجاعی و نوپه کلچر کښې حل شوی دی او که سره مساوی وه، نوددواړو دتصادم په نتیجه کښې بیابوه انتخابی عملیه جاری شوې ده یعنی دیوه ځینی بارز او اصلح خصو صیات دبل اصلحو خصوصیاتو سره ګډ شوی اویونوی مسلك ترې راوتلی دی . دتاریخ په راوروسته مرحلو کښې یعنی په شرق کښې ترشلمې پیړی راوروسته چه پرمختګ دملتونو اوپه تیره دملتو دمینورینو شمارشونو دمذهب سره همداسې معامله وشوه .

له مبارزوني خواوشخه يې استفاده وشوه او ارتجاعي اړخونه يې وغندل شول . نو په دغه ترتيب مذهبي تبليغات هم شعرته ليږل او د هغې په شکل او محتويانو اثر کوي. اوس به نموني وړا نداې کړم :

دخادم دشعرشپږ نمو نې :

اسلامي ترانه

چين وعرب زما دی هندوستان زما
مسلم يمه وطن دی واړه جهان زما

سيني زموږ خزانې توحيد دامانت دی
مشکله ورکول دی دنوم نښان زما

په ټولو بتخانو کښې دايو کور دالله دی
مونږ دی ساتو په مينه دی پاسبان زما

ددې په ننګه باندې موږ ټول يو قربان شوی
هغه جلوه لاښکاری په درست جهان زما

په سوړو کښې دتورولوی شوی يو ځوانان يو
دسرقر با نول دی ارام جان زما

په دشتو دمغرب کښې مې وشرنګو آذان
چانه شو بندو لی سيلاب روان زما

باطل ته ټيټيدونکی زه کله يم اسمانه
سل و اره دې اخستی دی امتحان زما

داندلس ښه باغه هغه ورځ دې په یاد ده
چه وستا چمنو کښې ښا یسته مکان زما
ددجلې لویه سینده هر موج دی یادوی موږ
هر واری چه تاویږی کوی ارمان زما
اې لوړغرونو د خیبر څه یاد مو تیر ساعت دی
زینت چه مود سرو وښایسته زلمیان زما
سردارد قافلې مو باداردی د حجاز
پردی نامه دی پاتی عزت و شان زما
جرس کوچ په زوره ښه وشرنګوه پاڅه
«خادم» که ځان ته وائی اوس شه ساروان زما

۱۳۱٤

د شاعر مسلك

صحیح لاره به ښایم که وم وم که نه وم نه وم
رښتیا رښتیا به وایم که وم وم. که نه وم نه وم
دحق دپیروی نه مې بل څه په زړه کښې نشته
چه څه یمه همدا یم که وم وم که نه وم نه وم
آزاد یم زیږ ید لی بندګی کو لی نشم
بنده دخپل مولایم که وم وم که نه وم نه وم
په بډو خوشامندو مې ځان خوښ نه دی چه غټ شم
که غټ یمه خودایم که وم وم که نه وم نه وم

چه څوك غواړی څه سپکه مې دقام له څه جهته
دښمن دهغه چـایم کـه وم وم نـه وم نـه وم
خد مت دخپلی ژبې قام وطن زما مسلك دی
په دې مینه به پایم که وم وم که نه وم نه وم
کرم ښکلی تخمونه چه ګلزار شی پښتنوتـه
پـه دغـه تمنا یم کـه وم وم کـه نه وم نـه وم
په ماته کښتی ناست یم طوفانونه دی په مخکښې
په دې لاره یې بیایم که وم وم که نه وم نه وم
دناز په خوب ویدې غنچی ورو ورو را ویښو مه
خادم باد صبـایم کـه وم وم ـ کـه نه وم نـه وم

د ژو نداوبه

د ژو نـد لا ر ده مشـکل ګذ اره هـو شرط ئې چه ته به درومې
د ژو ند او به دی تپه تیا ره کښې خو که ته درومې نو څه به مومې

محمود اوایاز

د مینی او ر و ستا په سینه کښـې دخلکو کورو ستا په سینهٔ کښې
ایا ز دې پر ینبو د محمو ده لاړ ې پټ کړې وطن بیاپه .درونه کښې

هوښیار او حکیم

فکر د ځا ن کوه و طن څه کوې یوه حکیم ته بل هو ښیار وو یل
لوئی په کار اوپه لوی فکر کښې ده دغه حکیم ورته په جار و و یل

کابل دلو (۱۳٤۰)

ځوان

هیو ادما یو سه شو له ځوا نه ځنې ځوان ناامید دی له آسما نه ځنې
دابه لادو مره خطر نا که نه وی یأس یې مشکل دی له خپل ځانه ځنې

له دغې ځمکې ترا سمانه نړی دغه پراخه او رو ښا نه نړی
زمونږ زلمی سره صحنه ده دسوال داپه همت با ندې و دا نه نړی

وائی چه ځوان یمه ځوان نه پیژ نی جهان کښی ګرځی جهان نه پیژنی
تا ریخ خو پیژ نی او جبر ئې هم خو د تار یخ قهر مان نه پیژ نی

بدبخت قوم

اې په بد بختو کښې بد بخته قومه په معنی لوړ په ظا هر پسته قومه
په بد بختی مې دې یقین و شو لو زما نا پوه خو اره کمبخته قو مه
څوك چه ارزو ستاد خدمت و کوی هغه لتا هم شی ې د سته قو مه

کابل ـ ۱۵ دد لوې ۱۳٤۰

دشلم قرن پښتون

که زه پښتون ومه وطن به کړ م بید ار یو ځلې
قام به مې پوه کړ مه دخیر وشر په چا ریو ځلې
رهبر داوښکو چه کوم راز په نیمه شپه را و ښود
دعشق له فیضه به یې اخر کړ مه اظها ر یو ځلې
نه به دا توره شپه ظلمت و ی نه ژړاد شمې
مات به د اسحر کاندی سترګه د سحار یو ځلې
خلاص به له جاله کړمه داطوطیان دلوړو څو کو
شو رد بلبلو به شی جو ړ په دې ګلز ار یو ځلې

پښتون به یو په ور ورو لی او محبت سره شی
په پښتو نخوا باندې به بیار اشی بهار یو ځلې
نفاق به نه وی زور به نه وی نا دانی ور سره
لکه د ناوې به وطن کې مه سنګار یو ځلې
آمو به بیا شی معترف له اباسینده سره
په (لوی پښتون) باندې به وکاندی اقرار یو ځلې
د طمعې طوق به د زلمو له غاړې وشلومه
پیړی به ماتې د زلمو نه کړم د ډار یو ځلې
ازاد یخواه یم زه د بد رسمو نو جیل نه منم
له غلامی ځنې مې کړی دی انکار یو ځلې
پخته کار شوی دشلم قرن پښتون یمه زه
ښه رسیدلی په را زونو د ژوندون یمه زه ۱۳۲٦

ځلمیان

چه ویښ وو اوس ئې وینمه ویده غوندې ښکار یږی
ځوانان چه لږ څه ګرم ووساړه غوندې ښکار یږی
رڼائی چه بدی کړه اورکی غوندې په شپه کښې
افسوس دی چه پخپله اوس تیاره غوندی ښکاریږې
همسا غوندی چه سم اوتکیه ګاه وو د لویدلیو
لیندې دبل دلاس شولې کاږه غوندې ښکاریږی
له ورایه ورایه غټ وو د خبرو په کولو
چه ښه ورته نزدې شومه واړه غوندې ښکار یږی

دنس دد رد خبر ې وې دز ړه له خو زه نه و ې
داځکه شوه اوس غلی چه ماړه غوندې ښکار یږی

ټول شو ی په ښا نك وود حلوا په تمه بـا ندې
ګوله چه په لاس ورغله خپاره غوندې ښکاریږی

فیشن با ند ې ځوا نان د ی خو د فکر له پلوه
مـاغزه یې که لږ وګورې زاړه غوندې ښکاریږی

لاهو پکښې پښتون دی پښتونخوا په ډو بید وده
زلمیان په دې سیلاب باندې سپاره غوندې ښکاریږی

سر و نه چه د عو ه پکښې د مینـی محـبت وه
ساړه شوه خو په بل ډول تاوده غوندې ښکاریږی

په دغه انحطاط کښې چه سودا د عیش و نو ش کا
ماغزه یې ټیك و نه بولې ور استه غوندې ښکاریږی

ددوه و تګ یې پریښو دو روان شوه په څلو ر و
پخپله په لارنه درومی ړانده غو ندې ښکاریږی

مرا د چه له کو م ډ نډه د ملت کته ایستل وو
ځلمیان پکښې پخپله اوس پراته غوندې ښکاریږی

پیمان یې مات په خو ښه د ساقی په پیما نه کړ
طفلان دی خو په بهه لږ پا خه غو ند ې ښکار یږی

مز ه د محبت صد ق و صفا ئی پا تـی نـه د ه
غلط ور باندې نه شې چه خوازه غوندې ښکاریږی

د کابل سیند

سپینی واوري چه اوبه شوي دپامیرپه لوړوڅوکو
تـر مي تـر مي لږي لږي غلی غلی چڼـېدلـي
له ناوونو ګړنګونو کمرونـو او پاڼو نـو
رالو يد لـي، رغـړېد لي ، څڅېد لي ، بهيد لي
څه له دي خواڅه له هغي خواز نځيری لښتی جوړ کړی
د ګلانو د غـاټولو له ځنـګـلو را وتـلي
له لښتيونـه شيلی شوي له شيلونـه شوه خوړونـه
چه خوړونه سره يو شول په ر ودونو ګډ يد لي
له پاميره هري خوا ته په سفر شو لی راونې
ز غليد لي تر هيد لي له فرا قه ژړ يـد لي
له پنجشيره له شتله له غور بند ه شوي را کښته
له ميدا نـه له تګا وه له لوګره چه ر ا تـلـلي
يوقوت شو په قوت بيـا د فطرت له لويـه سده
دوريښمين تـنـګی له لاري ننګرهارته وو تلي
د کونړ له سردرونـه د سپين غرله ښـا پـيرونـه
دلغمـان له ښکلو څوکو په مستی را کوزيدلي
د کابل لاره يـي طی کړه د خيبرنه شوي ورتيري
پيښور کښي شـنه ښونه کروندي يي جوړ ولي
سوات له خپل جنتی ملکه باړه راغله له تيرانـه
د کا بل سره په ګډه يـي د ژ وند ويلي يـد لی

د کابل د سینداو به وې نه دمور د خواشودې وې
له سینې د پښتونخوانه چه سیند و نه بهیدلې
ودانې ، مینه ، نرمی یې وه له ځان سره راوړی
چه په سختو هسکو غرونو کښې یې لارې وایستلې
په خوږه مینه وروری شوې دا ټك په سیمه ګډې
اباسیند له ډیره عشقه خپلې غیږ کښې و نیولې
منظره د خوشحالی یې د شاعر د سترګو وړوه
غرونه غرونه لاندې باندې پرزیدلې هسکیدلې
له ازله دا وروری د ه ترا بد ه به هم اوسی
په هیڅ ډانګ به بیله نشی هر قوت که باندې بلوسی

د بینوا د شعر دوه نمونې :

د یتیم اختر

نه هوا بل رنګ موندلی نه اسمان دی رالویدلی
نه تغیر د حیوان ښکاری نه بشر دی الوتلی
نه ورځ شپه او نه شپه ورځ شوه نه څه نوی ژوند راغلی
هغه مځکه هغه لمر دی
خلك وایی چه اختر دی
نه حال بل شو د خوارانو نه تن پټ د بیوزلانو
او ښکې چا نه کړې ورپاکې د کوټه یانو یتیمانو
وږی تږی ژوند کوینه اوښکې ځی پر باړخو ګانو
خان یې څه په حال خبر دی
ځکه وایی چه اختر دی

یوهلك ورکړ پیغور ډیر — یو یتیم ته چه وتور ډیر
«ګوره څنګه سور او سپین یم — باباجان می دی غمخور ډیر
ګلا لی کالی مې وینې — دا لاڅه لرم په کور ډیر

دامی کوټ دامی مپلر دی
وه وه څه ښکلی اختر دی

ځانته ګوره څنګه تور یې — وچ لرګی یې سوی سکور یې
لوڅ لغړ کمیس دې نشته — دچا زوی یې دچا ور ور یې
درګو وینې دی وچې — ته واښخ ژوندی په ګور یې

لوڅې پښې سرتور دې سر دی
وایه ستا هم څه اختر دی؟

یتیم و وې: «اې مغروره! — لږ څه کوز شه له غروره
سترګی پرسا نیزه ځان ګوره — اسمان مه وهه په توره
داز ما په وینو ډك یې — چه غړ مبیږې له سروره

ستا ژوندون زما په سر دی
خو د به وایې چه اختر دی

زه به ژاړم ته خندا کړه — زه کاهیږم ته نڅا کړه
اختر ستا دی زه یتیم یم — ځه خپل لو بې مشغولا کړه
زه به خدای ته کړمه ناري — ته نازونه په بابا کړه

زما له لوږی پوخ ځګر دی
خو پر تا باندې اختر دی»

غلی شانته انقلاب

نسیم ووې د گل غوږ کښې ،بدل شو دیارانې رنگ
غلی شانته انقلاب دی بدلوی د زمانې رنگ
ور سره نوی رنگونه رنگارنگ تحولونه
کړی سمسور به راغ رغونه
موسوم بل دی هم بل شوی د بلبل د ترانې رنگ
غلی شانته انقلاب دی بدلوی د زمانې رنگ
دړې وړې زوړ رباب دی زوړ مطرب خانه خراب دی
زوړ آهنگ دروح عذاب دی
نوی ساز نوی آواز دی هم شو نوی د نغمې رنگ
غلی شانته انقلاب دی بدلوی د زمانې رنگ
نوی دام نوی صیاد دی نوی چل نوی بیدا دی
نوی آه نوی فریا د دی
هوښیاری صید لره بویه بدل شوی ددانې رنگ
غلی شانته انقلاب دی بدلوی د زمانې رنگ
لری نوی محبسو نه نه یو سرای نه یوه خونه
حبسوی لوی هیوادونه
چه بندی پرې نه پوهیږی داسې شو د زولانې رنگ
غلی شانته انقلاب دی بدلوی د زمانې رنگ
طلائی جام کښې د دور شراب زهر دی په دور
نوشیدل یې غواړی غور

اې سر مست زلمیه پام کړه بل راز شو د میخانې رنګ
غلی شانته انقلاب دی بدلوی دزمانې رنګ
سره وا وښتل قومونه ویښ خبرشول له ژوندونه
د ویدو شوه وران کورونه
ګوره کله به شی نوی دپښتون د کاشانې رنګ
غلی شانته انقلاب دی بدلوی د زمانې رنګ

دالفت دشعر شپږنمونې :

داعلحضرت حضور ته

بهار سم در سره راغی شهر یاره وخت شناس وې راغلې ښه وخت کښې مالیاره
سر سبزی اوشادابی درسره راغله تا ز ګی د ې ځا ن سره را وړه بهاره
نه دې لاره کښې پیچومی نه اغزی وو چه هوا دې کړه پښولاندې اې دینداره
بارانونه د رحمت دربانديې وشوه په هوا کښې اعتدال را غی له واره
په لیمو قبلوو مونږ ستا قدمونه په ښو پا کو و ستا د ر ا تلو لاره
ښه مالیاریې ځکه راغلی پسرلې ته وچ ډاګو نه به ګلزارشی ستاله پاره
وخت د سعی او عمل د کاراو زیاردی نا خبر ه نه ئې ته له خپله کا ره
نوی بوټی اونیالګی به باغ کښې کیږدې دموسم تقاضادغه ده هو ښیا ره
تر بیت د وړو بوټو ډیر پکار د ی ډیرلوی حق لری واړه په تاحقداره
د وړو پالـنه کـا ر دی د لو یانو وظیفه د مشر ځکه ده دشو اره
لویې چارې لری مخ کښې خدای دې مل شه په ذمه دی ډیر کارونه دی سر کاره
د یوه ملت اسرې دی وا ړه تـاته امید ونه لر و ډیر ستا له در باره

مونږ پوهیږو چه لر ې ډیر ارما نو نه — د صادق او وفا دار ملت د پاره
هلته ګورې ښې ماڼی د لته جو نګړې — زمونږ حال دی دژړا زمونږ غمخواره
مونږ خوارن یو ناپوهان یو رنځوران یو — څه راوړی تا زمونږ درنځ دپاره
نوی کال نوی بهار نوی ژوندون دی — خوزمونږ هغه زوړ جغ دی زړه سپاره
تا لیدلی نور په عیش و په زاحت کښې — لیدای نه شی زمونږ برخه دومره خواره
څوچه جوړ پښتونستان نکړې پښتون ته — دپښتون زړه دی زخمی سینه داغداره
هره خوادی خوار چه هر څه پښتانه دی — ستا په لوری په امید ګوری نامداره
آزادی د پښتنو او پښتنو اله — هم ئې ساته هم ئې وګټه تاجداره
په هر ځای کښې چه په هر پښتون څوك بلوسی — غم تپوس یې دی په تا زمونږ وا کداره
درد وغم د پښتون تاته په ژړا کړم — ژړا تا ته ده پکار د ملت د پلاره
یو زه نه ژاړم عالم را سره ژاړی — وریځې ژاړی ژړا او رم له آبشاره
نغمی نه دی کړی بلبلی فریادونه — معلومیږی له سرو سترګو د ګلزاره
دی په کار نوی فکرونه ټینګ عزمونه — درته غواړو لوی توفیق له کردګاره
نوی رنګ نوی آهنګ دې خدای پیدا کړی — ستاد فکر ستاد خیال له ابتکاره
دا خپل زوړ جهان له خدایه غواړم نوی — ستا په سعی او کوښښ ملی سالارده

غزل

چاچه ایښی داشین خال ستا په جبین دی — زما زړه هم دهغه له لا سه شین دی
ستا امیل کښې یې سل زړونه دی پییلی — چاجوړ کړی ستادغاړې لونګین دی
جوړه شوې یې د لمر له پلو شونه — ستادعشق په حرارت مې دایقین دی
سو رسا لودې سره لمبه ده نه پوهیږم — که زما دزړه په سرو وینو رنګین دی
د جمال پر ښتې ته چه جوړ ولې — و رلیږ لی چا سلام چا آفرین دی

معجزه ته د قدرت او د خلقت یې په رښتیا چه خدای احسن الخالقین دی

خدای دې ساته په امان له بدو سترګو
دا دعا دپر ښتو زمونږ امین دی

دنازمیرمنې

ورورد ې خواری اومزدوری کوی له پلاره سره
تا په مستی کښې امیل وشکاوه له یاره سره

مور دې میچنې ګرزوی خوردې منګی ډکوی
ته سور پیزوان غواړې د سروزر رله هاره سره

ده غریبی خواره خواری کور کښې څه نه دی پاتې
مه کوه او بې له درهم او له دینا ره سره

هلته دښځو په سر خاورې دی دناز میر منې
ستاسر و کاردی تمام عمر له سینګاره سره

زمونږ له حاله ځان خبر کړه په مونږ زړه وسیزه
دتن جامې سوزی زمونږ ستاله سینګاره سره

عیش وعشرت دومره ډیر پریږده د وطن میر منې
مینه پیدا کړه دخپل کورله کسب و کاره سره

یو زړه به لاس کښې ونیسه نورزړونه مه ځوروه
مناسب نه دی دا خو یو نه له دلدا ره سره

په سراو مال چه د وطن خدمت ته نه دی تیار
مه ګوره هیڅ دهغو خلکو له ریباره سره

ورسره مه خانده چه خاندی په خوا انو باندې
د ناز خندا کړه د وطن له خدمتګا ره سره

زما ګناه

نه مې دچا مال خوړلی نه مې څوك وژلی دی
نه مې چا ته وړك شه یا ګم شو کله ویلی دی
نو ره ګناه نلرم په دې ګناه مې مه نیسه
زړه کښې مې چه پټ ظالم ته بد غوندې کتلی دی
و خت د اعتراف دی ګناه خپله در ته وایمه
نه یمه منکر په مظلو ما نو مې ژړلی دی
دا ګناه دستر ګو که د زړه ده نه پوهیږ مه
بد مې چه لیدلی خدا یږو بدمی هم ګڼلی دی
نه ومه خبر پر ده مې لږ غوندی چه جګه کړه
نه دی د ویلو هغه څه چه ما لیدلی دی
زه یې په لیدلو او ویاو ګناهګار شو مه
نور یې په کولو اوعمل باندې ښاغلی دی
نه یمه خاین په خیانت د نور و پوه یمه
پوهه که ګناه وی خلك ټول اوس پوهیدلی دی
داچه ډیر کاږه در ته ولاړ دی ټیټ سرو نه هم
ستا مخکښې چه سم نشوه سم کله چلیدلی دی
هیڅ امید تري مکړه که څوك ځان دتاغلام ګڼی
ما غلا ما نه ذهنیتو نه پیژندلی دی
لوړ مقام ته رسی چه بو ټو نه پاکوی دبل
ډیر په دغه شغل ریاست ته رسیدلی دی

دمونشن د سفر یوه خاطره

دلته بل رسم و رواج بله دنیا ده مینه پټه چانه نـه ده بـرا لا ده
ښکلول، غیږ کښې نیول د نوروه خکښې که په خوښه او رضاوی څه پروا ده
په غلانه دی په ښکاره دی یارانې نه هجران شته نه د هجر ترا نې
بی ریباره وصالونه شا مـدام دی نشته کوډې نه تعویذ نه شکرانې
که په ګل پورې سینه مزی بلبله که دشونډو ښکلول وی یو له بله
نه پیغورشته نه رټل شته نه تورونه که هر چاله ځان سره څوك ګډوله

حسن او نظر

دړانده بدای په کور کښې ښایسته ښکلی لیلاوه
دنظر خـاوند څوك نه و بـیهو ده یې تجلا وه
ډیوه بلـه وه دحسن مګر عشق ور سره نه و
بی پتنګه سـوزید له شمع ځکه پـه ژړا وه
دسپین مخ او دسر وشونډو تور وزلفو تورو ستر ګو
څه قیمت او قـدر نه وزړه کښې مینه د دنیا وه
دښایست نوی بهارو دګلزار جوش او ځوانی وه
بینایی دذوق هیڅ نه وه په بل ډول مشغو لاوه
دګل لور ته کتل نه و بهار خـوشی تیـر یدلو
دمیوو انتظـار ډیرو دما دی ګـټې سو دا وه
دښکلا میرمن خپه وه د جمـال څه قدر نه و
بصیرت ته وه محتـاجه په نظر پسې شید ا وه

مال دولت له حده تیرو واک یې خپل وهر څه ډیرو
مګر دا د تش کتلو او شعـو ر پـه تمنـا وه
علم وفن هنر اوشعر بیناذوق او شعور غواړی
که په نیمه څوك پو هیږی دلیلـی دغه معنا وه
دمعناروح تل خپه وی دړندو ناپو هو کور کښی
عرفانی نهضت مه غواړه جامعه که نا بینا وه

په پورتنیو نمونو کښې مې فقط ددروشاعرانو اثاروړاندې کړی دی چه اول قیام الدین خادم دویم ګل پاچاالفت اودریم عبدالرؤف بینوادی. دغه درې شاعران چه زمادلیکنې په وخت کښې ژوندی دی اولاهم دپښتولومړۍ درجه شاعران ګڼل کیږی ماددې دپاره غووه وګڼل چه یوهم مقلد نه دی اوتر یوه حده ځانله بیل بیل سبکونه لری اوهر یو پر یوه ډله نورو شاعرانو اثر کړی او پیروان یې پیدا کړی دی. له بله پلوه دوی دلومړۍ مرحلې دشعر سلسله ژوندۍ ساتلی اوهغه تلنلار یې په شعوری ډول تعقیب کړی اودهغې یو نسبتاً مکمل شکل یې میدان ته راایستلی دی. هغه تبلیغات چه هغوی (لکه چه مورلیدل) په ډیره اومه لهجه کول دوی په ښه بڼه اوهنری ترکیباتوو کړل. اوس به په لنډ ډول دهر یوه داشعاروخصوصیات وګورو: دلومړۍ مرحلې دشاعرانو دکلام خصوصیات مو په یو ځایی ډول وښودل اوددویمې مرحلې په جلا ډول ځکه ښیو چه د دې مرحلی سره سم انفرادیت Individualism پښتو ته لیار کوی داسې چه شاعرنه یواځې دادبی فنونو سره لوبې کوی اولکه فارسی غزلیات دزړو تشبیهاتو او استعارو دمخلوطولو او بیا بیا تر کیبولو څخه یو مکرر او په عین حال کښې یو پر طمطراقی شی راوباسی بلکه په دې پسې دی چه یوه نکته ورسوی اودهغې دویلو دپاره په شعوری ډول په الفاظو او تر کیبونو پسې ګرځی

اوهغه چه دده هغه نکته ښه افاده کوی زااخلی اواستعمالوی یې. په پښتوشعر کښې هم وزن اوقافیه شته خودومره سخت قیود نه لری چه شاعر ته دڅه ویلو وارورنه کړی او پخپله هدف شی . له بله پلوه دپښتوملی اوزانواوبی قافیې تقرری شعرو پښتنو ته دا اسانه کړې چه کله کله لیکل شوی شعر کښې هم دقا فیی رعایت په هغومره شد اومدونه کړی لکه فارسی وانان یې چه کوی. په دې لار کښې د پښتنو شاعرانوسره یو بل مرستیال هم شته چه هغه په پښتو ژبه کښې دی اوا کسنټ یاخج یې په فارسی کلماتو کښې معمولاً په اخر کښی راځی اوداوستاخجی سیستم یې هیر کړی دی دفارسی اسپها- ګاوها- باغها- مردم- دشمنان- دلبر که ترهرصرف اوتغییرلاندې راشی دخج ځای نه بدلیږی اوپه اخر کښې راځی . د (دښمن) خج په ان کښې دی خو که دشمنا ن شی بیا یې هم خج په اخر کښې وی په (ان) په صحیح اوغیرصحیح حالتو کښې هم خج په اخر کښې دی. خـو په پښتو کښې که ددښمن خج په (ان) دی نوددښمنانو خج په (ان) دی نه په اخـری . (نو) همداسې هم دغواوې په (۱) باغونوپه «غو» اسپې په (اس) . که څوك لستونی داسې تلفظ کړی چه خج یې په آخر کښې راشی پښتا نه ورپورې خاندی دپښتوپه شعر کښې خج ډیر لوی رول لوبوی او پښتانه ترې کار اخلی همدا وجه ده چه فارسی وانان وایی پښتوشعراسان دی یو نثرولیکیء بیاهره لیکه په دوو برخوویشیء اوپه پنسل پاك یې مینځ پاك کړیء پښتو نظم ترې جوړیږی. داخبره دیوه فارسی وان له نظره ځکه رښتیا ده چه د هغه په ژبه کښې خج نشته اونه پوهیږی چه څنګه دپښتو دتلفظ په اساس دپښتودنظم دواړه مسرې سره مساوی وی . بله مسأله چه فارسی ویونکی ته مشکلات پیښوی دا ده چه په پښتو حتی هغه مشترك کلمات چه یاله عربی څخه راغلی او یا دپښتواو فارسی مشترك لغتونه دی پخپل تلفظ اړوی

یو مثال یی د عربی (سوال) دی چه په فارسی او عربی کښی دوه سیلابې او په پښتو کښې یوه سیلابه لری . د پښتو مالت چه دوه سیلابې لری په فارسی کښی د مهلت په ډول چه درې سیلابې لری تلفظ کیږی . دغه وجه ده چه دپښتو یو شعر چه پښتون یې روان لولی فارسی وان یې سکته لولی . دا چه فارسی وان خپل «اخپل» بولی د دې سره مرسته کوی چه هغه دې دپښتو شعر د وزن او قافیې څخه نا خبره پاتی شی . خو زما مقصد ددواړو ژبو د عروضی کیفیت بیان نه و بلکه دامې مقصد دی چه وښیم چه پښتو نظم داسی چوکاټ لری چه شاعر ته د یو ه فکر دا دا کولو د موقع دورکولو سره مرسته کوی . همدغه وجه ده چه دازموږ درې شاعران چه په کافی اندازه فردیون یا individualists دی خپلی خاصې نکتې هم په خلاص لاس بیا نولی شی اوس به په هر یوه یوه وړو کې شانته تبصره وکړو او بارز خصوصیات به یې وګورو :

خادم: دده کلام په درو تکاملی برخو ویشل کیږی لو مړی برخه یې د ده د شاعری ابتداء ده چه د مذهبی تبلیغاتو او اسلامی وحدت وخت دی او نمونه یې «اسلامی ترانه» ده .

په دغه مرحله کښې یعنې له ۱۳۱۲ څخه تر ۱۸، ۱۹ او ۲۰ پوری ډیر مذهبی اشعار لری لکه دیر موک جنګ، نعتونه او داسې نور. دویمه برخه له ۱۳۲۰ نه را په د یخواپیل کیږی چه د ویښو زلمیانو نهضت په کښې لیدل کیږی لکه «د شاعر مسلك» او «د شلم قرن پښتون». «زلمیان» یی د دې وخت لمنه نغاړی او ورسره د خادم د بد بینی حس شروع کیږی او هغه دنیاګی چه ده په خوب کښې لیدلی وه له بنسټه خرابیږی او «ځوان» او «ترقی» یې د بد بینی آخری مرحله ښیی او «بدبخت قوم» یې سر باری دی «د کابل سیند» چه په ۱۳۳۰ کښی یې

لیکلی دی دغه بد بینی نه استثنا دی او په دی شانې نثری تفسیریدای ترڅوسړی وتهٔ وایی چه ددې شعر په لیکلو کښې د خادم په روحیه کښې یو انقلابی توپیر راغلی دی او د یوې شیبې د پاره خوشبین شوی دی.

الفت : د الفت اشعار هم په دروبر خو ویشل کیږی چه یوه برخه یې دده په غوره اشعارو نومی کتاب کښې راغونډ دی او بله یې «د زړه وینا» کښې چاپ شوی دی. «د زړه وینا» کښې هم فقط ځینی اشعار شته چه هغه د الفت په اشعارو کښې یو تحول ښیی او که هغه تري وبا سو غوره اشعار او د زړه وینا په یوه جلد کښې داسی ځاییدای شی چه لو ستونکی دسبك بدلون پکښې ونه گوری د الفت د هر شعر نیته په جلا ډول ماته نه شوه را ځر گنده خو یو لړ ترانې لکه د وطن ترانه، د افغان ترانه ـ د معارف ترانه ـ دغیرت سندره چه «د زړه وینا» په ۵۲-۵۴-۵۷- او ۸ مخو کښې چاپ شوی دده د اولی دورې د اشعارو په ډله کښې دی د دویمی دورې په اشعارو کښې یی «زخمی زړه» راځی چه په ۱۳۲۱ کال کښې په کابل مجله کښې خپور شوی دی. له هغی وروسته الفت هم دویشوز لمیانو په نهضت کښې ور گډ یږی او داسې اشعار لکه د اعلیحضرت حضورته او «زما گناه» وایی. «دناز میرمنې» له ۳۰ کال څخه را وروسته دی او تردې وروسته یې «دمونشن دسفر یوه خاطره» ده چه وایی د هغو اشعارو په ډله کښې دی چه موږ ور ته دویمه برخه وایو او صالح کال ـ ښکلا او هنر او د صالح نړی په کښې راځی. دا هغه مرحله ده چه د الفت په جهانبینی کښې ښکاره وسعت راځی.

بینوا: تر دغو دواړو پاس با دشوو شاعرانو بینوا زموږ عصر ته ډیر را نژدی دی. د بینوا په اشعارو کښې مذهبی فکر ما ونه لیده بلکه یو ډول وطنی او په عین حال کښې شرقی انقلابی فکر دده په هر شعر کښې تجلا کوی. دی هم د ویشو

زلمیانو په نهضت کښې شامل و خود هغې د سقوط څخه وروسته یې ما غیر له یو څو غزلو بل شعر نه دی لیدلی .

په «پریشانه افکار» کښې څه بارز تحول نه ښکاری خو دومره ترې جو تیدای شی چه د بینوا فکر بالاخره په «غلی شانته انقلاب دی» کښې پختګی ته رسیدلی او ده ته یې خپل مخصوص سبك په لاس ور کړی دی . د بینوا دا مقطع ګانې که وګورو یو ورته والی په کښې ښکاری.

اوس خندا سبا ژړا ده نن راغلی سبا درومم
نه پوهیږم چه به ورك شم او که بیا به ژوندون مومم

«بیابانی ګل»

ګوره کله به شی نوی د پښتون د کاشانی رنګ
غلی شانته انقلاب دی بدلوی د زمانې رنګ

ځان دې سم د سیال په شان کړه یا بدل نوم د افغان کړه
یا ژوندون دی یا مرګی دی
خو که نن وی که سبا یاد او کړه یا دا (یاد او کړه یادا)

❀ ❀ ❀

په غمونو کښې نولیږم
دا ټول و ینمه تیریږم (د سهار ستووی)

❀ ❀ ❀

ځانته په ښکنځل یمه بل ته په ستایل یمه
ځای د خندا تل یمه خپل کور کښې دبل یمه (د لیونی ترانه)

❀ ❀ ❀

خوار مین بې یاد وه تل
دا یاد ګاریې ښه ساته تل (زما او ښکو)

نور مې پښتون مه بوله پیغور د پښتونخوایمه
خدایږو د ژړایمه خدایږو د ژړا یمه (خدایږو د ژړایمه)

❀ ❀ ❀

په زرګونه فریادونه شوه را پورته په فضا کښې
چه ټول مړه له ناکامیه ،ومونه خندل دنیا کښې

. . . . . .

په حیرت په اضطراب شوم چه دا څنګه منظره ده
چا په غوږ کښې راته ووې پرد یسانو هدیره ده (دپرد یسانوهدیره)

❀ ❀ ❀

مقطع دشاعرله شعر څخه بیلول اوبیاد هغې له رویه یې دشعر په فکر ی میلا ن قضاوت کول ګناه ده خو زما هدف تش داو چه وښیم په دغو کښې اوهمداسې د بینواد پریشانه افکار په ټولو اشعارو کښې دخپل عصرپه اجتما عی مؤ سسو باند ې یو عمیق او دوامداره انتقاد موجود دی چه په مقطع کښې دیو ې مأ یو سو و نکی نتیجې سره مخامخ کیږی.

دپښتود شعرد تحول له نظره ددغو دروښاغلو اشعار درې مرحلې تشکیلوی په لومړی سر کښې د ټادم اشعارراځی چه مذهبی او پښتنی جهانبینی لری اوداهریو کله په ځانګړی صورت او کله یې په تر کیبی حالت تقد یسوی .

دالفت په اشعارو کښې دافغانی بیلوبیلو کلتوری واحده ائتلاف لږ څه زیات دی. او «دزړه وینا» کښی لاد ملیت ترساحی هم دباندې وتلی او دعا لمی سو لې تبلیغ یی هم کړی دی. په را وروسته کلو کښی داعالمی سوله او ګډ ژو ند دده شعار ګرځیدلی اود تور او سپین اختلاط یې د توروز لفو اوسپین مخد نژدیکت په شان مقبول اوښکلی بللی دی.

دبینوا جهانبینی دهماغه لومړ یواشعارو له مخی وسیعه ښکار ی او ټول شرق یې احتوا کړی دی .

دده «بیوزلی شرق» دداسې شاعر څیره راښیی چه شرق ورته لکه خپل وطن داسې ښکاری اوشاعرانه احساسات یې ورته راپار یږی په«پریشانه افکار» کښې ملی دردوته له یوه عالی ګوټ څخه اودیوه احساساتی‌سوسیالست په سترګه کتل شوی دی.

لفظی خصوصیات: الفاظ چه‌په لومړی مرحله کښې (لومړی مقاله) ډیراومه وو پاخه شول اوهغه هیرې کړې ایمایی معناګانی یی لاس‌ته راوستلې درحمان روانی او دخوشحال صلابت بیرته شعرته داخل شول‌لفظی صنایع بیرته راژوندی شول‌اولکه‌د الفت:

چاچه ایښی داشین خال ستاپه‌جبین دی
زمازړه هم د هغه له لاسه شین دی
حقیقت په دنیا هو مره شونایابه
چه سیند نشم پیژ ند لی له سرا به

(تجنیس تام اوناقص)

. . . . . خیټه یې لویه او ککره یی وړه ده‌ډ یره
. . . . . مزدوران وږی دی‌یوه‌بی بی مړه ده‌ډیره

نو ر به موټر دطیار واو جها زو نو کښی ځی
دپښتون‌مخکښی به‌وی‌خره‌دی به خر کار پاتی شی
هرڅه به‌نوی شی زړه اوضاع به‌نه وی پاتې . . . . . .

(تضاد)

یاد بینوا:

یاا نجام شه یا ا غا ز شه حقیقت شه یا مجاز شه
یاد خپل حیات تقدیر شه یا په فـکر دتد بیر شه
د اهستی واړه نیستی ده
بـی جنبشه بـی صـدا

(تضاد)

یـاد او کـړه یـادا

الفاظر نگینیزی اونوی لفظی تر کیبات شعرته لیار کوی. اوداصنایع کله‌چه یوې مصرعی کښې هم تطبیق شوی اود مو ضوع دذ هن نشین کو لود پار ه دوه متضادې صحنې ښودل شوی دی.

لکه دالفت:

ورور دې خواری اومزد وری کوی دپلا ره سره
تا په مستی کښې ا میل و شکا وه له یا ر ه سره

یاد بینوا:

یا ا سما ن د هستی ړ نگ کړ ه یا د نیا جو ړ ه د ننگ کړ ه
یاژوند خوله کښې دنهنگ کړ ه یا د ژو ند ه صر ه جنگ کړه
یا د ښمن په و ینو رنگ کـړ ه یا بدل د و ینو ر نـگ کـړ ه
یا جا ل لر ې د فر نگ کـړ ه یاومرگ ته سر یه سنگ کړ ه
یا خا مو شه ز و ړ آ هنگ کـړ ه یا د نو ې نغمې تر نگ کړ ه
پاڅه پا څه د ا ژ و ند مر گ د ی چه نه هغـه کـړ ې نـه دا

یاداو کړه یادا

دالفاظو دبیابیا استعمال اودپښتود شعرد عامید واو زیاتیدو په اثر کلتوری معناوې بیر ته په لفظ کښې داخلی شوې او شاعر له دې مجبوریت څخه خلاص شوچه مستقیماً موضوع او محمول یاد کړی او لکه په اوله مرحله کښې موچه ولیدل «پسته مې خپل روغن مې خپل بادام مې خپل دی» وایی. په عمومی صورت موږ ویلی شوچه دبیاو دانی دوره چه دایې دویمه مرحله وه د پښتو دشعر په تاریخ کښې ډیر اهمیت لری اوداځکه چه مدرا تلو نکو شاعرانود پاره یې تلنلار جوړه کړه او وروسته ډیر شاعران دهمدوی له خوا وروزل شول اوهریوه پیر وان پیدا کړل.

زه په دې مقاله کښې په دغودرو تنو شاعرانو اوددوی دشعرپه تحلیل او خصوصیاتو ونه ږغیدم او دهر یوه سبك مې هم تحلیل نه کړ ځکه زما مقاله په عمومی صورت دپښتود شعرپه تحول وه نه د فردی بیګنهو اوادبی مهار تو په ښودلو. ځکه که داسې وای نومې یوائې دادرې کسه نه انتخابول بلکه ددوی نور همز ولی لکه جلالی ـ مجروح اوزمریالی به هم چه دبیاود انوو نکو دډلې په سر کښې دی زما دمقالې څخه نه وو پاتی.

دبیاو دانی ددورې زیږنده به په دریمه مقاله کښې وڅیړم.

ظاهر افق

ك. ى. تسيولكوفسكى

«كه څه هم ځمكه زموږ ځانګوده
امالازمه نه‌ده چه ترابده پورې دې
په‌ځانګو كښې واو سيږو.» (۱)

تسيولكوفسكى (۱۸۵۷-۱۹۳۵ع) دنولسمې اوشلمې پيړى هغه‌ستر شخصيت دى چه دراكټ پاخه قوانين اودجيټ الوتكې درانه ماشينونه يې ايجاد كړل نن چه خلك ترفضا (Space) لاهم تيريږى- ترسپوږ مې اوړى، په‌زهره كښې تحقيقات كوى اوپه مريخ كښې ژوند پلټى داټول موفقيتونه‌دهغه غښتلى عالم‌دقوانينو مرهون‌دى چه‌نوم‌يې تسيولكوفسكى اوپه كال(۱۹۳۵ع) كښې وفات‌شوى‌دى.

په دې كښې‌شك نشته چه‌انسانان به نن‌اوسبا دساينس په كومك ونور وستوروته وخيژى‌هورى به‌بيلې بيلې ځيرنې وكړى اودانسانى ژوند دارامى‌له‌پاره به‌ډول‌ډول لارې‌چارې وسنجوى اوپه تاريخ كښې‌به‌يوه نوى دوره وپرانيزى. امادومره‌خبره‌ده چه‌داتګ‌به‌دهغو انسانانو په‌برخه‌وى څوك‌چه دمثبتې فلسفې‌غيږ كښې دانسانانو هوسايى او كرارى غواړى.

زه‌د امنم‌چه‌ننى ټوله‌اختراعات‌د تيرتاريخ په‌وقايعواوجريانا توپورې مستقيمه اړه‌لرى- دځمكې‌دمخ اوسنى اجتماعى كاروان هم‌دپخوا نيو ټولنو په‌روابطوپورې

(۱) Konstantin Edvardouich Tsiolkovsky دراكټ مخترع

ك ی · تسیو لکوفسکی د شوروی ستر پوهاند چه د توغندیو د جوړولو او
د باندنی فضا د تسخیر په باب یې ډیرې مهمې نظریې ښکاره کړی دی

پوره تړلی دی - یعنی دنن ورځې دراکټ قوانین او یا هغه قاعدې چه دهغو په واسطه سره انسانان فضاته وختل دتیر وپوهانو په تیره د (تسیولکوفسکی) دقوانینو څخه ریښه اخلی. ښکاره ده چه هغوی هم په خپله اند ازه سره دخپلو پخوانو څخه پوره استفاده کړی ده- نو انسانی مسأ لې تولې ددوی له تاریخ سره کلکه رابطه لری.

مقصد دادی چه دنن ورځې دتو غندیو- جیټ جوړولو او کاز میکې الوتنو مفکوره دتسیولکوفسکی دمهمو تخښو څخه ده او هغه قوانین چه ده راایستلی دی په استرونومی کښې پوره کارځنی اخستل کیږی.

(تسیولکوفسکی) په (١٨٥٧) کښې زیږ یدلی دی چه دخپل نبوغ په وسیله یی موږ ته یوه خورا ښه لارښوونه کړی ده.

دی لا شپاړس کالو ته نه وور سیدلی چه دفضا او هواد تسخیر په باره کښې به یې له ځانه سره فکر کا وه.

دعلم په تاریخ کښې داخبره لیکل شوی ده چه (تسیولکو فسکی) دشوروی اتحاد ډیر لوړ او دقدرور شخصیت نه یوازې ادیب- فیلسوف او فلا لوجسټ و بلکه دهوایی الوتنو قوانین هم ورمعلوم وو- دراکټ دتوازنی حرکت په باره کښې یې خپل افکار او نظریات خرګند کړل. سیاروته دسفر په باب دده تیوری خورا دقدرور ده او دجیو فزیک لیکنې یې خورا ښه لارښوونه کولای شی- پرداټولو خبرو باندې سربیره ده هغه انسانانو اجتماعی مسئلې څیړلی او بیان کړی دی چه دوی به دلمر پرشاوخوا وګرځی اورا وګرځي.

دشوروی اتحاد دغه پیاوړی سیانس پوه د(کالوګا) (١) په ناحیه کښې دمکتب استاد و. حساب او هندسه یې درس ور کاوه، خو چه یې ذهنی اقتدار زیا تپدی او

Kaluga(١)

ابتکاری قوي يې ښه انکشاف پسې وکړ. ده په کال (۱۸۹۱) په نومو ړی ناحیه کښې یواخبار چاپ کړ اوتر (۱۹۱۷) پورې دې اخبار خپله سویه دپخوا په شان وساتله. اما څه وخت چه په شوروی اتحاد کښې داکتو بر لوی انقلاب پیښ شو اوټوله اجتماع پر بله واو ښتله نو ددې نامتو عالم فکری اقتصا دی او اجتماعی وضعیت هم په ښه کیدو شوه اوټول هغه مشکلات چه به ده پخوا لیدل هغه یې له دې نه وروسته هیڅ ونه لیدل چه دده ډیر اختراعات او نوی فلسفه هم دغه وخته څخه وروسته په خورا کامیابی راشروع کیږی. علاوه پردې چه ده ډیر اختراعات وکړل ډیرې خپرونې یې هم وکړې مثلاً داوو کالو په لنډه موده کښې (له ۱۹۲۵ څخه تر ۱۹۳٤ م پورې) یې شپیته علمی ورځپاڼې راویستلې چه هرې یوې یو جدا اهمیت درلود. ددې ورځپاڼو اساسي موضوعګانې پرفزیك ـ کمیا ـ استرونومی اوفلسفه باندې مشتملې وې چه ګواکې دې هرې موضوع یې نه یواځې داختراع اوعلم دپاره کومك کاوه بلکه دعامو خلکو دتنویر دپار یې هم پوره کار کړی دی.

دده ډیر آثار ترده راوروسته په خورا دلچسپی سره تعبیر او ترجمه شول چه دهغو اثارو داستفادې په نتیجه کښې مصنوعی مځکنې سیتلایټ ـ مصنوعی سپوږمی اودلمر پرشاوخوا اودطبیعی سپوږمی دچپې خواعکاسی میدان ته راغلل.

شوروی اتحاد اوس هم دهغه قوانینو په اثر ښې فضایی بیړی جو ړوی. یعنی په رښتیا سره دده لیکنې او کتابونه اوس دعصری راکټ جوړ ولو دپاره خوراښه رهنمایی کولای شی. تسیولکوفسکی چه لاوساینسی مطالعې ته ښه نه وور شوه شوی، ستورو ته دورتګ مفکوره یې په ذهن کښې ګرځیدله ډیرزحمتونه یې وګالل او ډول ډول فکرونه یې وکړل په فضا کښې یې دمیخانیکی حرکت دتحلیل په باره کښې ډول ډول قوانین جوړ او دریاضی په غیږ کښې یې لوړ په فضا کښې دقوو

محاسبه و کړه. څوچه یې دراکټ دالوتنې دپاره بیانونه ورکړل اودفضایي بیړۍ لومړنۍ ماډل یې په کال (١٩٠٣) کښې جوړ کړ. دایې ثابته کړه چه انسانان به حورا ژروفضاته پورته شي.

ده داراکټ په مایع فیول (Fuel) (٢) سره چلاوه ګواکی دده ډیرې پیچلی مطالعې په دغه ډول ساده موادو سره عملی کیدلې.

که څه هم ددې نامتو ساینټسټ ټولې مفکورې او کارونه موږ په دې لنډه مقاله کښې نشو بیانولای خو په لنډ ډول سره به دده هغه ځینې ساینسی فعالیتونه اومفکورې بیان کړو و چه دننې راکټ په جوړولو کښې یې زیات کومك کړی دی.

په (١٨٨٣) کال (تسیو لکو فسکی) دمشابه حرکت په باره کښې ځینې پرنسیپونه جوړاودشلمې پیړۍ په اولوڅو کلو کښې یې دراکټ یرمتوازن حرکت باندې تبصرې وکړی یعنی په ١٩٠٣ کال یې یوه مقاله وفضا ته تګ چه عکس العمل یې هم بایدزموږ په نظر کښې وی ولیکله په دې مقاله کښې د(ډینامیك) ډیرې داسې خبرې پرتې وې چه دهغو څخه یې دراکټ په توغولو کښې کاراخستی دی. دهلاداخبره هم په پراخه سینه سره کړی چه لوی را کټونه او سپوږمۍ چه دسیارواحوال معلوم کړی څه مشکل کارنه دی اوپه حوصله سره هرڅه کولای شو.

څنګه چه به (تسیولکوفسکی) ځینې مفکورې میدان ته کولې نوبه یې تر ډیره حده کوښښ کاوه چه آلات اواسباب هم ورته جوړ اوعملی کار ځنې واخلی. ده چه یه راکټ کښې خبرې کولې نویې یوداسې راکټ جوړ کړ چه شکل یې دیوه فلزی سیګار (cigar) په شان و.

(٢) Fueloil چه Mazout یې هم بولی یو ډول ګاټه تیل دی چه د کښتیو په موټرانو کښې استعمالیږی.

ددې سیګار په پزه کښې ځینې داسې آلات شته چه راکټ په کنټرول کیږی اوهم دوهره ځای لری چه سړی پکښې کښینی. په دغه پزه کښې اورشته داسی آلهشته چه کاربون ډای اوکسایډ (CO2) جذبوی اواکسیجن (O2) یورنګه سره تهیه کولای شی.

ددې راکټ په نوربدن کښې دسوځلوونو مواد پراته دی نوهغه وخت چه دغه سره ګډ شی اور پکښې بلیږی او ومرکزته نژدې په یوه معین ځای کښې یې لمبې ولاړیږی دغه لمبې او سوځوونکی مواد چه حاصل شی بیانو تاوده تاوده غازونه هم پکښې تولیدیږی اوپه خورالوړ سرعت سره دیوه بل(روښانه) نله څخه وځی اوفرار کوی.

(تسیو لکوفسکی) چه خپلې تجربې پرمخ پسی بوتلې نویې دراکټ دماشین دپاره قوانین جوړ کړه چه څونه ه فیول تیل (Fuel Oil) او اوکسیډانټو نه (Oxidants) په دغه ماشین کښې لازم دی. په رښتیا سره دهغه قوانین دی چه نن ورځ هم عصری ساینس دراکټ جوړولو په باره کښې کارځنی اخلی.

ده ډیردفیولو تیل اواکسیدانتونه سره تجزیه اوتجربه کړه څوچه یې یوښه مقدار په عملی کار کښی استعمال او استفاده یې ځنې وکړه.

دمثال په ډول سره ده دغه لاندی جوړه جوړه مواد داستعمال دپاره خورا مهم وبلل مایع اکسیجن اومایع هایدروجن- الکول اومایع اکسیجن-میتان (CH4) اومایع اکسیجن او همداسی کروسین (Kerosene) او اوزون.

له دې فارمولو څخه جرمنیانو په دوهم عمومی جنګ کښې داسې کار واخیست چه دفیول (دلته دسوخت په معنی دی) په حیث یې اینا یل الکول (C2H5OH) او مایع اکسیجن یې داو کسیدانت په حیث استعمال کړل (په وی-۲ راکټ V-2 Rocket)

کښې) څوچه وروسته امریکا دراکټ په ماشین کښې د اکسیجن اوهایډروجن څخه استفاده وکړه.

(تسیو لکو فسکی) په خپله زما نه کښې لا داهم ویلی ووچه دراکټ په یوه خورا ساده او کوچنی ماشین کښې دا ټول مواد او ترتیبات په خورا زحمت سره ځائیږی حتی هیڅ به ځای نشی یعنی د ماشین تشکیلات باید خورا ساده او بسیط نه وی چه البته ددغه ماشین پراخوالی یوڅه ګران کارمعلومیږی.

نوهغه ووچه په کال (۱۹۲۹) کښې یې دیوه مکمل راکټ په باره کښې مفصل بیانونه ورکړه دیوه پراخ اومرکب ماشین دحرکت په باره کښې یې خوراډیرې اوښې خبرې وکړې چه ګواکی دهغه وخت خبرې او فارمولونه دی چه دنن ورځې په (راکتیزم) کښې په کار لویږی او دلومړی کاز میکی پیلوټ دپاره یې ښه لاره صافه کړه.

په عمومی ډول سره تسیولکوفسکی دوه ډوله راکټونه جوړ کړه یویې خورا ساده چه در هیل د ماشین په شکل سره دیوه محرك Locomotive په واسطه سره دشاله خوا څخه پورې وهل کیږی ـ پرمخ ځی اوبیانو حرکت کوی.

دوهم ډول راکټ یې چه دنن روځی په سیانس او تیکنالوجی کښې خو رازیات اهمیت لری هم میدان ته راویوست او (سکوادرن) نوم یې وربا ندې کښیښود او تر لومړنی ډول یې تشکیلات هم ډیر اوهم مغلق دی.

فرض کړئ چه څلور دانې راکټونه یو د بله دا سې نژدې سره واقع وی لکه دپیانو (کلی) نوهغه وخت چه دیوه راکټ (فیول) ونیمائی ته ورسیږی ـ بیا نو هغه نور دوه یې دیوه نل په واسطه سره دخپل ټانکه څخه فیول ودغه نیم ډك راکټ ته ورتویوی اوهغه یې بیاتر استعمال وروسته د (سکوادرن) څخه باسی. دغه

عملیه نودیوه کامیابه سرعت اوحرکت سبب کیږی ترڅو چه فیول تمام نشی حرکت یې موجود دی. البته دغه نظام دومره ساده نه دی الکه موږ چه یې په دې خورا ساده ژبه سره بیانوو خورا ډیر تشکیلات لری چه د ټولو بیان یې دلته زما په وس نه دی پوره .

(تسیولکوفسکی) خورا ډیر بیا نونه لری . دی وایی انسانان به خوراژر دلمر پرشاوخوا باندې مدارونه جوړ اودخپلې استفادې دپاره به دلمر له انرژی څخه هرډول استفادې وکړې . دمشتری اومریخ سیارې به هم بیله معلوماته نشی ځینی پاتی او که یې زړه وغواړی دشمسی نظام ټوله محتویات به په خورا دقیق ډول سره وګوری اومطالعه به یې کړی. دی بل ځای وایی :

«..... انسانان به دسپوږمی ډبرې سره کښته اوپورته کړی په فضا Space کښې به دې له پاره سیارې اډې جوړې کړی چه دمځکې ـ سپوږمی اولمر پرشاوخوا باندې کمربندونه جوړ کړی . مریخ ته به د یوې معلومې فاصلی څخه په خورا وضاحت وګوری. یا به پر کومه سیاره باندې کښته اویا به پر کومه سپوږمی باندې ورپلی شی چه ګواکی هرڅه به پرخورا پراخوالی سره پای ته ورسوی.

تاسو به یوازې دځینو آلاتو په واسطه سرد داستروتومی په جهان کښې یونوی تاریخ جوړ کړیء دا به هغه تاریخ وی چه په اسمانی مطالعه پورې به اړه لری .. »(١)

(تسیولکو فسکی) له دې ډول مترقی موضوعګانو څخه چه نن اوسبا یوه یوه واقعیت ته رسیږی خورا ډیر ډیر بیانونه لری .

دنیا په تیکنالوجیکی اوسیانسی ادبیا تو کښې دده دراکټ د توازنی حرکت خبرې اوسیاراتو ته دتګ په باره کښې بیانونه ډیر زیات اهمیت لری .

لیه داچه تسیولکوفسکی نه یوازې داستروتومی په تاریخ کښې دنوی دورې لار خلاصه کړه بلکه په ټول بشری تاریخ کښې یې دیوې داسې انقلابی دورې دروازه

(1) Culture and Life. 1960

وپرانستله چه با لکل به انسانا ن خپل ژو ند او د فعا لیت سیرته تغبرور کړی دمځکی انسانان به نه یوازې په شمسی نظام کښې سره نیت شی بلکه په کائناتو کښې به دتګ اوراتګ لاره خلاصه شی.

تسیولکوفسکی لکه څنګه چه موو ویل په ډیر وخبرو پوهیده او د (را کټیزم) مؤسس یې بولو. دی یو بل ځای دخبرو په ترڅ کښې (۱۹۳۳) وایی:

«. . څلو یښت کاله مې دجیټ پر ماشین باندې کار و کړ او دا فکر مې دځانه سره وواهه چه تراوسه لا یوڅو موده وختی دی که ومریخ ته سفر و کړو لا کن وخت تغبر خوری . دازمایقین دی چه ډیر به ئې ستا سو څخه وو بنی چه داټمو سفر په اخوا به الوتنه وشی . . » (۲)

دی علاوه پردې چه په استرونو مې- فزیک- کیمیا اونورو علومو پوهیده - په مثبته فلسفه کښې یې ښه ښه بیانونه کړی دی . ده دخپل علم اساس پر خپله نا می فلسفه باندې بنا کړی و .

مثلاً ده خپل دراکټ جوړولو علم او ستوو ته دختلو مفکو ره پر دې فلسفه باندې درو لی ده چه وائی:

«که څه هم مځکه زموږ ځانګوده امالازمه نه ده چه ترابده پورې دې په دې ځانګو کښې واوسیږو » یعنی که ده دافلسفه نه درلودای اوپه یوه منفی اړ خ کښې ورته ناست وای هیڅ ممکنه نه وه چه ده د مرکب راکټ ماډل جوړ کړی وای او یادې وستوو ته دتګ فارمولونه راپرې ایښی وای. نو ګواکې ده دخپلې فلسفی په لمن کښې موږ ته راکټ جوړول راتأسیس اوپه بشری تاریخ کښې یې یوه نوی دوره راخلاصه کړه چه نه به یوازې ننني پوهان تشکر ځنې و کړی بلکه ټول بشریت به دده دخدمت پر بنا آفرین ورته وائی .

(1) Sovietman in Space. London 1960

«نبوغ او عبقریت»

د خادم صاحب دغه تصنیف ما ولوست اودامې فیصله و کړه چه هم وخا د م صاحب ته پردغه دماغ پاشه محنت داد ور کړای شی اوهم په دغه سلسله کښې خپل ناچیز خیالات پیش کړا ی شی .

زه امید لرم چه خادم صاحب به خپل شخصیت دهغو حضراتو په زمره کښې نه حسابوی چه دخپل فکر او نظریاتو متعلق دمزید هیڅ اضافی ګنجایش ته قایل نه وی نه به ئې دهغو و ګړو په قطار کښې محسوبوی څوك چه دخپلی تذکرې په پـه اوریدو خفه کیږی .

معزز لوستونکو ته دې دامعلومه وی چه مضمون فقط او فقط نتیجه ده ځما دخپلو مطالعاتو او تدقیقاتوه ځما پرمطالعاتو صحیح په مقابله کښې دغلط احتمال زیات ګیدای شی او له ـاچه زه پخپله په دا حقیقت اعتراف کو م چه ما خپله مطالعه همیشه غیر مستند ګڼلې ده او پر یوه غیر مستند خبره هیڅوك دبدوړ او حق نه لری او که بیا هم خادم صاحب ئې بدو ګڼی نوزه به شخصاً دودسته معافی وغواړم . ودې دپاره چه دمعافی په یوه لفظ مې لوئې هنګامې خاموش کتلی دی .

خادم صاحب وائی چه استعدادونه چونکه متفاوت دی نو ځکه نبوغ او نابغه هم متفرق او متفا و ت و ی د کتاب د مطا لعې څخه ز ه په دا نتیجه ور سیدم چه خادم صاحب دنبوغ تشکیل فقط د استعداد واو هغه هم دښو استعداد و نتیجه ګڼی دبدو استعد اد و څخه دخادم صاحب په عقیده نابغه نه شی جوړیدلای که

موږ په قول د خادم صاحب نبوغ محض پر استعداد و منحصر و ګڼو نود هغو شخصیتو متعلق خادم صاحب څه وائی چه د استعداد مالکان خو و ومګر پخپل و خت ا و محیط کښې په نبوغ مشرف نه شول مثلا لکه جمال الدین افغانی چه په ژ و ند و ن کښې چا په وطن کښې هم نه پریښوداو دمرګ بعدئی پرهډو کو اعصابی جنګ و.

دویم هغه شخصیت چه په تمام ژوندون کښې ئې ترڅو حواریونو او معتقدینو زیات هیڅ حاصل نکړای شو او دمرګ بعد ئې تعلیماتو پر نیمه دنیا قبضه و کړه لکه حضرت عیسی.

که اوس هم دخادم صاحب په خیال داثبوت نه و ی نو کم ا ز کم ځما په عقیده واضح خو شوه چه دنبوغ او نابغه په تشکیل کښې سواله استعداد و نور عوامل هم لازمی دی چه ذکر به ئې په راتلو نکو لیکو کښې ولولیء.

دویمه خبره دا وه چه که موږ داو منو چه نبوغ فقط دښو استعداد و نتیجه کیدای شی نو دامشکل په پیداشی چه ددنیا څخه به دنابغه او نبوغ لفظ او وجود دواړه قطعی محوه او نا پیدا شی ولی چه دښو په تعین او انتخاب کښې دډیرو زوایاو څخه کار اخستل په کاروی اخلاقی زاویه، مذهبی زاویه، مادی زاویه او فنی زاویه.

زما په عقیده یو کار، یو فعل، یوشخص او دهغه کردار په پورته ذکرشوی څلورو سره زاویو یکسان ښه او پسندیده تسلیمول دومرې نا ممکن خبره ده چه په اقتصادی امورو کښې دخادم صاحب دانتهائی حزم او احتیاط باوجود په مریخ کښې دنو موړی دجونګړی خبر به مونږ وا ورو ولیکن دمایونو، اخلاقیونو، مذهبیونو او فنی ما هرینو دیوه سړی پر کردار او ګفتار متحداً او حقیقیتاً دتصدیق دمهر ثبتولو خبر به هرګز وانه ورو. نو څرنګه چه د مختلفو او متضادو زاویو په وجه دښو او مستحسن یو متفق علیه تعریف پیدا کول په دې و جه نا ممکن شو

چه کوم شی چه دفن په لحاظ د تعریف وړاو د ستایش قابل وی هغه په مذهبی لحاظ ملعون او قابل نفرین ګڼل شوی دی مثلاً لکه بوت سازی، مجسمه‌سازی او رقص وغیره .

او دغه رنګه کوم فعل او حرکت چه په مادی لحاظ ضروری او مقبول تصورشوی دی هغه په اخلاقی لحاظ منفور او انتهایی مردود تصور کیږی مثلاً دمادیونو دانظریه او کلیه چه و مطلب ته رسیدل شرط دی خواه په هره طریقه وی مګر اخلاقیون دغه کلیه دانسانی تمامو ګمراهیو واحد او یګانه سبب ګڼی .

نو اوس زما په عقیده نبوغ فقط ترښو استعدادو محدود ګر ځول صحیح نه دی . دښو او بدو دمعمولی او غیر معمولی استعداد و درلورنکی باید یکسان نابغه وګڼل شی . دنابغه داستعداد وښه او بد باید دهغه حیثیت او دنبوغ ماهیت متأثر نه کړی او په دغه سلسله کښې بله کومه خبره چه زه واضح کول غواړم هغه دا چه زما په عقیده نبوغ پخپله کوم مستقل بالذات شی نه دی بلکه اضافی دی . هر کله چه اضافیون بدلیږی د نبوغ ماهیت او دنابغه حیثیت هم ور سره بدلیږی . مثلاً په قول د خادم صاحب ګاندهی نابغه و . زه هم وایم چه نابغه و مګر که دغه نابغه د خپلو تمامو نابغانه استعدادو با وجود وزیرستان ته منتقل شوی وای او د وزیرستان نابغه حاجی میرزاعلی هندوستان ته استول شوی وای خادم صاحب څه وایی چه آیا ګاندهی به په وزیرستان کښې نابغه او حاجی میرزا علیخان به په هندوستان کښې دپرستش وړ شخصیت ثابت شوی وای .

خادم صاحب ته دې معلومه وی چه ګاندهی په افریقه کښې شل کاله خپل نابغانه کردار ټول استعمال کړ مګر هندوستان ته چه را تلو فقط ایم ، کې

ګاندهی و. دنوموړو استعدادو سره د هندوستان پرور شو او دهندوستان ورشوته دنوموړی تلقینات په کارو چه په نتیجه کښې ګاندهي نابغه مشهور شو.

بله داچه په قول دخادم صاحب ملنګ جان نابغه پرداوقت ضایع کول چه ملنګ جان نابغه وچندان فایده نه لری. دخادم صاحب دذوق په رعایت ملنګ جان یې نابغه صحیح مګر دامعلومول په کار دی چه دملنګ جان نامنهاد نبوغ آیا دنوموړی دادبی نازك خیالیو دطرز او دتشبیهاتو او استعاره درنګینیو مرهون دي او که دپښتونستان دمسألي په وجه دپیدا شوی هغه ماحول نتیجه وه په کوم کښې چه دجذباتو پرسطح روان تمام ځوانان د قوم پرستی ولولو داسې سرشار کړی وو چه د ملنګ جان شعرونه خوځه کوې دموسیقی په تارو او تالو کښې ددغه کړی چه زړه مې نری دی لکه لوټه دسهار باد یې ښوروی لکه لکړه. زما ګران پښتو نستانه! په اوريد وهم ګډیدل اوهم زنګیدل.

زه امید کوم چه اوس به ښاغلی خادم صاحب ځما د مقالی په مفهوم پوه شوی وی چه زه نبوغ رهین منت ګنهم دمتعدد وعواملو: اول استعدادونه، دویم محیط، دریم دمحیط دآرزو ګانود کماحقه ترجمانی.

بله داچه زه نبوغ یوازې دښو استعدادونو انحصار نه ګنهم بلکه داد ښو او بدو یعنی ځما په اصطلاح (داعلی اوادنی دمعمولیی) استعداد ومشترك حق ګنهم.

بله داچه زه نبوغ بالذات شی نه ګنهم اضافی ئې ګنهم چه داضافتو د بدلولو سره نبوغ هم بدل شوی راغلی دی بله داچه زه نابغه ته په عالمی او عمومی حیثیت قایل نه یم بلکه زه نابغه یو داسې موجود ګنهم چه متعلق وی فقط دخپل محیط او منطقې سره لهذا دپورته دراز نفسی بعد زه په اختتام کښې په انتهائی اختصارد نبوغ یا نابغه تعریف داسې کوم چه: دیو مخصوص محیط او د هغه محیط دمخصو صو

ارزوګانو د ترجمانی په رڼا کښې دمخصوصو استعدادو پر بنا دمخصوصو افرادو ومخصوصو اقداماتو ته نبوغ یا نابغه وایم خواه که هغه ښه وی او که بد

په اخر کښې دخپلو ټولو رفیقانو څخه داخواهش کوم چه دخادم صاحب ودغه تصنیف ته دقدر په نګاه وګوری ولی چه د کتاب د مطالعې څخه زه په دانتیجه ورسیدم چه دا کتاب هرڅه چه دی او هر رنګ کښې چه دی دموصوف د خپلو خیالاتو او افکارو نتیجه ده مستعار نه دی، ترجمه نه دی، او نقل نه دی او بس همدغه وی دیو مصنف دذهنی بلندی او اخلاقی جرائت واضح ثبوت .

بناعلی خادم صاحب دخپل مافی الضمیر ترجمانی په ډیر صراحت پخپلو الفاظو کښې بلالحاظ ددغه چه څوك ئی خوښوی او که نه و منظر عام ته پیش کړی دی، دا به یقیناً ځمونږ محرومیت وی که څنې فیضیاب نه شو .

۲۰-٦-۱۳٤۱ - کابل محمد ایوب اتکزی

د افغانستان دطبیعی څنګلونو یوه منظره چه زمونږ دهواد مهمه شتمنی ګڼله کیږی .
(دمطبوعاتو عکاسی)

د افغانستان دطبیعی ځنګلونو یوه منظره چه زمونږ دهېواد مهمه شتمنی ګڼله کیږی . (دمطبوعاتو عکاسی)

دزړه وینا

داد ښاغلی الفت په چاپ شوو کتابونو کښې اتلسم کتاب دی چه په دې ورځو کښې له چاپه راوووت ددې کتاب په زړه کښې یو لوی نظم دزخمی زړه په نامه شته چه شاعر پکښې ددوهم عمومی جنګ په دوران کښې دنړی په بده ورځ او دملتونو په بدل حال کړیدلی، ځوریدلی اوژړیدلی دی په دې شعر کښې شاعر اول دانسانانو په خونریزی او دجګړ مارو په بی رحمی خپل عمیق تأ ثرات څرګند کړی اوبیایې دانتیجه ځنی اخیستی ده چه ژوند بی توري او بی قوته نه ساتل کیږی ځکه یې پښتنو ته دوطن ساتلو او بقای حیات دپاره دسر بازی قوی درس ورکړی اولکه خوشحال خان خټک دننګ وغیرت هنګامه یې توده کړی ده په دغه ضمن کښې یې پښتنو ته دیووالی او نزدې والی له اغیزو ډک پیغام وړا ندې کړی اودلوی پښتون دجوړیدو هیله اواسره یې څرګنده کړې ده. داشعر ځکه ډیر اهمیت اوقیمت لری چه یو خودشاعر همدردی او غمشر یکی له ټول جهان او مطلق انسان سره په ډیر قوت ښیی او بل داچه دپاکستان له وجود نه پخوا دپښتونستان عقیده او مفکوره په ډیره ښه پیرایه کښې وړاندې کوی.

لکه چه پخپله الفت هم یوو خت د دغه شعر یوڅه برخه دپښتونستان په یوه مشاعره کښې ولوستله او په تمهیدو مقدمه کښې یې وویل:

داشعر دهې ورځو آنی اقتضاء نه دی پیدا کړی اوابن الوقت نه دی.

شعر که هر څنګه وی دزړه ویناورته ویلی شو مګر دزخمی زړه له شعر سره دغه نوم ډیر مناسب دی. دا کتاب دشاعر په تصویر ولو او پیژند ګلوی شروع کیږی اودشاعر په شعار ختمیږی چه اغاز اوانجامي بی تعلقه نه دی. همدا رنګه دنورو مضامینو په ترتیب کښې هم ځینی معنوی مناسبتونه موجود دی. لکه دشاعر نظر نه ورسته چه دخه ګورم شعر راغلی اوپه څه ګورم پسې غریب ماشوم اوخوار حسن راځی اوبیاهمدردی راپیدا کیږی.

لکه چه دکتاب په زړه کښې د زخمی زړه له شعر څخه دشاعر مینه اوعلاقه له بشریت او انسانیت سره ډیره زیاته څرګندیږی دکتاب په سر کښې هم ځینی شعرونه (ښکلا اوهنر- دصلح نړی- مینه اودوستی- صلح کل) ډیره زیاته جهانی او بشری جنبه لری چه په پښتو ادب کښې دوسیع اوعالی نظر ډیره ښه نمونه ده اودبشر دوستی اوانسانی ورورولی درس پکښې پروت دی.

ددې کتاب یو بارز صفت دادی چه دوطن دوستی اغیزه پکښې ډیره زیاته ده اود کار اوزیار ستاینه پکښې ډیره درنه برخه لری.

دطبیعی مناظرو رسامی اوطبیعت سره تعلق اواشنائی هم دیادونې وړده.

شاعر طبعاً له طبیعت سره اشنادی اودهمدې لامله دبهارسندرې وائی اوله سپوږمی سره خبرې کوی مګر له لمر سره خبرې او دخزان سندرې چه په دی کتاب کښې شته یوه نوی برخه ورته ویلی شو.

همدارنګه ددهقان ستاینه او په شعر کښې دجغ او سپارې داخلول او دوطن خاوره دهر نعمت اساس ګڼل په حقیقت کښې دشعر مخه ژوند اوحیات ته اړول دی.

دهمدې لامله ویلی شو چه دا اشعار له ژوندانه سره ډیر نزدې اوډیر ټینګ ارتباط لری اودژوند برخه پکښې زیاته ده.

په دې کتاب کښې ابتکار شته ژو ندشته د صلح او دوستۍ رازونه او رمزونه شته د دې کتاب انشاء ډېره ساده ده او ښائی چه سادګان پرې ډېر سرسری او سطحی تیرشی .

ترڅو چه څوك ډېر باریك بین او ژور ګوری نه وی ښیګڼو او محاسنو ته یې نه ملتفت کیږی مقاصد او مطالب یوازې په لفظی او معنوی تعقیدونو او اغلاق و اشکال کښې نه پټیږی په ډېرو ضاحت او صراحت کښې هم باریك نکات او ژور مطلبونه پټیدلی شی د شعر ډېره روانی هم لوستونکی د مراد له ټکونه ډېر ژر تیروی او تعمق ته یې نه پریږدی .

هو! د اصحیح ده چه له حده زیاته ړنا هم دلیدو مانع کیږی او ډېر ظهور د خفا موجب ګرځی .

راشه وګوره کمال د ستاری یی
د آفتاب په ضیاء ستر د شهاب کا

(ادب دوست)

مترجم: غلام غوث شجاعی

ګویته

دایګمونټ ډرامه :

داډرامه په پنځوس پردو کښی لیکل شوې اوپه ۱۷۸۷ع کښې پای ته رسیدلې ده. دایوه داسې ډرامه ده چه په طبیعی ډول دیوه مقصدته د رسیدلو دپاره بېلې بېلې کومیدی او تراژیدی صحنې او رولونه پکښې لوبول کېږی . دې راز ډرا موته په المانی کښې Schauspiel وایی . ګویته دا ډرامه هغه وخت شروع کړه چه ویمارته یی سفر کړی و. په ویمار کښې یې دغې ډرامې باندی یو څه اندازه کار وکړ څه برخه یې ولیکله خو بیا وروسته یې په ایټالیې کښې پای ته ورسوله.

دډرامی الهام اومحرك : ددې ډرامې محرك اوهغه وخت اوهغه داستانونه چه ګویته تري الهام اخستی دی دشپاړسمې پېړی داستانو نودلیکلو سبك اومکتب دی .

منبع: ددې ډرامې منابع دوه دی- یودای زوایستن شترادا اثر چه دهدې بېلو بیلګیکو» په نامه یادېږی اوبله منبع یې دنیدرلیند دجنګ لیکنې دي چه ایمانویل فون میترین لیکلی دی .

دډرامې لنډیز : لومړی پرده(۱) په بروسل کښې دبزګرو او عامې طبقې یوجشن دی. خلك ټول خوښ دی او دنیدرلیند خلك ځان له یوې خوا نیکمرغه بولی اوله بلې خوا ددوی په زړونو کښې ددویم فلیپ په مقابل کښې دانتقام اخستلو

جذبه ليدله کېږي. دوی دايګمو نټ په طرفداری خپل رضايت ښکاره کوی دريګينتين Regentin مارګيرتی فون پرماداقضاوت اوفيصله سمه اودرسته نه وه چه دريفورماسيون په مقابل کښې پوره مقاومت وکړی او بېرته يې ووهی. خلکو په يوه بل سردار اعتماد درلود چه دهغه نوم ويلهيم فون اورانين ilhelmvon Oranien

۲- ريګينتين په دې غم کښې وچه خلك ولی په دې ترتيب اوپه دې رازنااراه ژوند کوی. ماښياول (Machiavell) ديوې خاصی مشورې له مخې چه د ملك له سردار سره يې کوی ريګنيتن ته يو لبك ليږی اوهغه راغواړی خوهغه په چل پوهېږی اوتښتی ليکن ايګمونټ نه ډار ېږی اوپاتې کېږی. دايګمونټ په باب په دربار کښې يوه مشوره کېږی چه آيا ايګمونټ د دې رژيم مخالفت کوی اويايې طرفداردی

۳ - کلير ښن [✡] د ايګمو نټ دمينې په هکـله له خپلې مور او يو دوسـ براکن بورګ Brackenburg سره مشوره کوی اود براکين بورګ په وسيله دخپل مينی پيغام ايګمونټ ته وايی. وروسته براکن بورګ دخلکو دنارامی په وجه له کليرښن نه جلا کېږی اوهغه يوازې پرېږدی.

دوهمه پرده: (۱) په همدې ترڅ کښې په مرکز اوپايتخت کښې بزګران او خلك سره راغونډېږی اودخپل حق اخستلو له پاره مقابله کول غواړی اوپه داسې حال کښې چه انقلابی افکار لری دمقابلې له پاره چمتو دی. کله چه داخبره طغيان ته رسېږی ايګمونټ مداخله کوی اوداشورش بيرته له منځه وړی او خلك کراروی.

۲- دايګونټ سکرتر خپل مشراو دکام لارښوونکی ايګمونټ د احساساتو له پارولونه راکېنوی اوپه ډېر ملايمت يې خپلو دفتری کارونو ته متوجه کوی او

پام یې نورولو یولو یو کارو نو ته راګرزوی . الیوا Oliva چه یو سردار دی ایګمونټ ته دده د کار دسمون او نتیجی په هکله یولیك استوی . دی په خپل ټول قدرت دحکومت اودولت سره وفاداری ښکاره کوی په دې وخت کښې له اورانین سره ګوری اوهغه ورته ټولې خبرې او دده تګ دربارته او دده دسر اوژوند خطر ښیی. ایګمونټ په دې خبرو باورنه کوی. اورانین وایی چه البا Alba ممکن په لارې کښې ولاړوی ځکه باید ډېر زر بروسل پرېږدی او بېرته وتښتی ایګمونټ غواړی په رښتیا دفرانسو یانو داستعما ری رژیم په مقابل کښې یولوی انقلاب او جګړه جوړه کړی. اورانین خدای پامانی اخلی ده یوازې دومره غوښتل چه خپل خوازه ملګری ایګمونټ ته مخکښې خبرې و کړی اودی داستعما ری حکو مت له پلان نه خبر کړی. دی د کار پلان جوړوی خود کلیرښن دمینې خوږې خاطرې اوخیال د. ته مخکښې مخکښې کیږی

دریمه پرده: (۱) مارګریتی له دې کارنه وارخطا کېږی. دی لاد پاچا (مقصد دفرانسې پاچادی چه وایی دده خورده اوپه نیدرلیند کښې دیواستعماری کولونی دملکی په حیث ټاکل شوې وه) فرمان لاهغسې پټ ساتلی واوعملی کړی یې نه واوڅه چه تراوسه په دې ښار کښې واقع شوی وو داټوله ګناه اوجرم دپاچاله خواددی په غاړه اچول شوی وواو دایې مسئوله ګڼله .

(۲)- د کلیرښن مور خپله لور غواړی او له براکن بورګ نه دهغې تپوس کوی ځکه هغې له ځانه سره دافیصله کوله چه که چیرې له ایګمونټ نه بیلیږی دفراق شپې نه شی تیرولای خوځان به مرګ ته چمتو کړی. ایګمونټ په هسپانوی کالیوځان راښکاره کوی اولکه یواصلی لیډر او آزاد وونکی ښکاری (دی ته په المانی کښې دیتر درګولدینین فلیس وایی) (۱) دی دخپل هیواد دموقعیت په

باره کښې يوڅه خبرې کوی چه په دې کښې دده اساسی مطلب د کام آزادی ده اوخپل لوی اوستر بريا ليتوب يې ګڼی او هغه وخت ځان لا نيکمرغه ګڼی چه کليرښن سره د نيکمرغۍ جام پورته کړی .

څلورمه پرده: (١)- ملت په يوه عجيب اضطراب کښې ښکاری ځکه چه البا يولوی فوځ ددوی هيوادته راوښتلی دی. ريګينتن په سفر روانيږی او اورانين هم له دې ښارنه تښتی اوځان مقصد ته رسوی. ايګمونټ لاهم د کام سره وفا دارو لاړ دی. ځکه چه دادده لومړنی اووروستی ارمان دی چه خپل کام له استعماری ژوندنه خلاص کړی اوټول پلانونه يې جوړ کړی دی .

(٢)- البادنيدرلند دنيولو اودخلکو دمغلو بولوله پاره تياری نيسی. خپل زوی فير ديناند Ferdinand با ندې خپل پلا نو نه عملې کول غواړی . او رانين دهغه ليك ته منفی ځواب ور کوی چه ده نه يی لېږلې واودی يې مر کزته راغوښتی و . او داستعماری سردارانوله خواورته خلکو آرامولو امرصادرېږی دی يې قبلوی او خلکو ته پخپله وايی چه بايد داعتصاب نه لاس واخلی. په دې باب کښې ديوه جنرال په حيث بښنه غواړی البادښاردساتلو اوددوی د احساساتو وژلوله پاره په ډېر وجدی اوسختو پلانو عملی کولو لاس پوری کوی. دلته ايګمونټ هم ښکاره اوڅرګندې خبرې کوی اودا وايی چه پاچاغواړی ددوی د آزادی فعاليتونه ژرشنډ کاندی او خلك ترې منصرف کړی ددوی دامتقابله خبرې اترې اوجريانات په ډېرشدت پرمخ درومی. کله چه البا په ډېر شديد لحن له ايګمونت سره خبرې کوی اوخپل پلان تعقيبوی ايګمونت هم هغسې په تندۍ مخکښې ځی. په دې وخت کښې فرديناند دايګمونت دنيولو اوبندی

(١) ديتر درګولد ينين فليس يوه زړه پخوا نی قصه لری ويل کيږ ی چه د ا خبره دعيسويانو په مقدس کتاب کښی هم راغلی ده. کوم سړی چه دکام دنجا د پاره ملا وتړی او ياکوم لوړ اودقدروړ خدمت وکړی هغه ته Goldenenvlies نجات ورکوونکی وايی اوويا ړی يی.

کولوپلان عملی کوی اوپه یوه چل دی خپل دربارته را وغواړی اودعسکر واوجګړ نو پهوسیله یې بندی رانیسی. دی پهډېر جرأت خدای پامانی کوی اوجیل تهدرومی.

پنځمه پرده: (۱) کلیربن غواړی چه خلك داعتصاب او انقلاب له پاره وپاروی ترڅو چه ایګمونت له جیل نه راوباسی. همدا کار کوی هم. خود خلکو دجبن اوډارڅخه متاثره کېږی اود دوی دابی وفایی ورباندې بده اغېزه کوی اوله براکن بورګ سره بیرته دکور خواته ځی.

(۲) ـ ایګمونت ته په جیل کښې هیڅ خوب نه ورځی. دی په بندی کیدلو اوپه بند کښې اوسیدلو نه ډېر ډارېږی ځکه استعماری سرداران غواړی چه دی په چل په بند کښې وساتی اوملت هسې په استعماری ژوند کښې وساتی. دی له مرګ نه هیڅ ډار نه لری غواړی دقوم سره یو ځای په مجادلو کښې مړشی(۱) ایګمونت په یوه اضطرابی حالت کښې ژوند کوی دځان مینه او دولس دازادیو مفکوره له یوې خوا او له بلې خواددې رژیم په طرفداری دقسم خوړلو خبره له بلې خوادی ډېرځوروی په همدې اساس غواړی چه دوی وغولوی ځان ازاده کړی او بیاخپل انتقام واخلی.

(۳)ـ براکن بورګ په نیولی غږ کلیربن ته دایګمونت داعدامید واوورلوله خپګانه ډکه خبره کوی دې ته چه نوره حوصله نه وه پاتی اوخپل امید ونه بی ثمره وینی نوزهر خوری او انتحار کوی. براکن بورګ په یوه اضطرابی اوحیرانوونکی حالت بیرته راګرځی.

(٤)ـ فردیناند اوسیلوا Silva بندیخانې ته راځی اودایګمونت داعدام حکم ورته وایی. ایګمونت فردیناند ته په ډېره ترخه ژبه دده دپلار حسداو بده رویه یادوی. خوپه دې موقع کښې فردیناند بی قصوره ښکاری اوایګمونت ته خپل مجبوریت اودحکم منلو خبره کوی دده دملګری براکن بورګ احوال خودقیقې وروسته

رسېږی او ایګمونت په بند کښې دخپلی ښکلی معشوقې او د ژوند دوروستی آرزو له مرګ نه خبرېږی له خپل ملګری نه دا بدله پاره خدای پامانی غواړی ـ دی له ځانه سره زونګېږی او ویده کېږی. په خوب کښې د کلیرښن ښکلی صورت وینی چه دولس دازادی په هغی ښا یسته ځیری کښې له ورایه ښکاری . دده د کلیرښن په سر ـ شاهی تاج دی او داورته وایی چه: « زما په مرګ دولس او ملك دازادی ارزوګانی سرته رسېږی او دوی خپلواك ژوند موندای شی . »

په همدې حال کښې ایګمونت له خوبه ویښېږی او داخپل عجیبه ژوند بېرته خوشاله ګڼی او مرګ ته ځان چمتو کوی او تیاروی مرګ ورته ډېر شرافتمند ښکاری او په دې کښې دولس ازادی وینی نو پخپل سر او په خپله غوښتنه د هسپانوی جلادانو سره درومی او ډرامه پای ته رسېږی .

ډرامې اصلی مطلب: ډرامی اساسی او اصلی مرام د نیدرلینډ د نیولو او داستعماری پلانو په ضد دایګمونت او هوورن انقلابی او داستعمار ضد افکارو او همدارنګه د ریګینتین خراب او ناوړه افکار ښیی او بیا د هغه ایګمونت وژل په یاد وی چه ١٥٦٧ کښې اعدام شوی و. د ګویته انتخابی هیرو چه په دې ډرامی کښې راغلی دی د هغه تاریخی ایګمونت سره د کر کټر له مخی تباین لری ځکه هغه پخوانی اولرغونی ایګمونت یوه ښځه او یو ولس زامن درلودل او د (٤٦) کلو په عمر داستعماری حکومت فرمان پرې عملی شوی و. خو دغه ایګمونت ځلمی او تر مرګه پورې یې واده هم نه و کړی . ددې له پاره چه ګویته و کولای شی چه دغه دایګمونت جانفشانی او میړانه په پوره ډول ښکاره کړی هوورن یې بېخی یاده کړی هم نه ده هوورن چه د پخوانی اولرغونی ایګمونت ښځه وه ددې په ځای یې یوه ځوانه پیغله کلیرښن یاده کړې ده. په دې درام کښې سر تر پایه یو مقصدی او هغه هم دیوه محکوم ولس خلاصون له استعمار نه ښیی . (نور بیا)

عبد الله بختانی

د یوه مین خاطره

مونږ اووه تنه په یوه ګاډی کښی سپاره وو. دخام سړك په اوپړه خاورود ګاډی ار ابې خښې روانې وې . او دور یځوغوندې دوړې ترې جګیدلې - ګاډیوان به د تالندې غوندې غړمبیده - دپسرلی دور یځودبر یښنا په شان په آس باندې د مترو کووار ونه کیدل - اود باران غوندې خولې ور باندې بهیدلې .

ګاډی د لښتی په غاړه ودریده .

« ودریږه چه دې بی ژبې مال ته او به ور کړم » ګاډیوان وویل. دسړك دغاړې د لښتی د خړو اوبونه یې ستل ډك کړاواس ته یې کښیښود.

مونږ به آخوادې خوا کتل.

زماد ملګری سترګې د سړك په کیڼه خوا - د پښ د کان ته کږې وې .

یوپوخ پښ د کان ته ناست و. سره اوسپنه یې په سندان ایښې په انبورنیولې وه او په سټك یې وهله . چه تر کهاریې دپسرلی دږلیو داواز غوندې اوریدل کیده .

د زلمی هلك دپلکونو ګو زارونو تندرونه کوزول.

پښ په سندان باندې اوسپنه اړوله را اړوله .

په دواړ ود باران غوندې خولی روانې وې .

« شابس » یې وو ایه - اوسپنه یې کورې ته ننه ایستله .

زلمی هلك ملا سمه کړه - سرك ته یې وکتل - دو چولی نه یې د کېڼ لاس په ګو ته خولې پاکې کړې او پخپلو تورو خورو څڼو یې لاس کش کړ.

لکه څنګه چه‌دپسرلی د زور ور بارن نه وروسته په‌نری شمال لا مده سنبل خور ېږ ی- دهغه لمدې څڼی په نری شمال بیرته خوری‌شوې.

ګاډی روانه شوه.

« هله- ګاډیو ان ماماشا بس چه ناوخته دی » یوه ملګری وو یل. ګاډیوان د«هه‌هه »غږونوسره‌دمترو کووارونه شروع کړل. «ګړبې ګړبی »ګاډې روانه‌شوه.

ماچه خپل ملګری ته وکتل - په وچولی یې خولې بهیدې.

زه لږ اند یښمن شوم چه څه عا ر ضه ده؟

په ډاډه‌اوعادی‌وضع- چه دی‌زماپه‌اند یښنه پوه نه شی پوښتنه مې‌ترې‌وکړه:

« خیر یت دی ؟- په دې ژمی کښې‌خولې‌شوی یې!»

« د پښ د کا ن ته دې ونه کتل؟»زما ملګری و و یل.

زه لااند یښمن شوم - په خند امې و و یل : «پښان دسره اور په خوا کښې سره اوسپنه ټکوی چه خولې کیږی- ته خو په‌ګاډی کښې نا ست یې‌او یخ شمال در با ندې لګېږی .»

« هغه هلك زما په زړه اوربل کړ- دهغه څڼو زما فکر پر یشا نه کړ.»

« کوم هلك ؟ »

« هغه ځوان پښ .»

« هودنا صر زوی یا د وې ؟ - هغه خو زلمی هلك دی - بر یتونه یې‌را غلی هغه خو دو مره ښا یسته نه د ی ! »

زمادملګری په‌سترګو کښې اوښکې ډنډشوې اوښکې‌یې په‌ښو کښې ایسارې

شوې- په سپیرو شونډو یې داسې څه وویل :

«ته یې له زوره خبر نه یې . که خبر شې نو که داوسپنې زړه ولرې هم به نرم شی.»

«د چاله زوره؟»

«د عشق له زوره.»

«عشق؟- عشق خو هم ځای لری- رښتیا ده چه هوښیارانو ویلی دی- عشق ړوندی.»

«نه خلك ړانده دی- هوښیا ران ړانده دی !»

«رښتیا ده- چه دوه مین سره یو ځای شی

په روغو خلکو درندو ګومان کوینه .»

«ګومان دایمان زیان دی- هغه څه چه یومن یې وینی نور خلك یې لیدی نه شی

زما زړه د ناصر د کورې له اوره تاواخستی- د هغه زوی یې په پلکونو ټکوی.»

«نو- په عاشقی کښې زړه سندان که

په کښې پیښیږی د پلکونو ګوزا رونه»

ګاډی ودریداه- کراګانې ور کړی شوې- هر یو کوروته روان شوو- زه او زما ملګری هم خپل کلی ته ځو- په هغه باندې خولې بهیږی- شونډې یې وچې دی دسړك دغاړې دلښتی په خړو اوبو مولاسونه اومخونه ووینځل.

لمر په غرغره دی- زړه ټیکله یې دسپین غره څو کې پورې نښتې ده. دسپینو زرو په رشه باندې دسرو زرو مړال ځلیږی- زما د ملګری مخ دلمر د بلوشو سره بیخی زعفرانی شوی او دسرو زرو رنګ یې اخستی- هواشیبه په شیبه سړیږی- مخ کښته کلی ته روان یو- زمونږ دواړو اوږده سیوری مومخکښې روان دی.

ما په خندا وویل: «سیوری ته دې وګوره !»

- «غم لکه سیوری راسره دی .

هرچیرې دواړه‌وړاندې وروسته سره ځونه.»

«په دنیا کښې څوك بې غمه دی؟ چا سره دمال غم چاسره دآل غم- چا سره دچوکۍ غم چاسره دغریبۍ غمه چاسره دډوډۍ غم- چاسره دپولې او پټۍ غم- چاسره دځان چاسره دجهان غم...»

«عاشقانو سره غم‌د معشوقو دی

معشوقو سره دټیك او دپېزوان غم»

دهغه په‌سترګو کښې او ښکې وګرځیدې - په‌بڼو کښې‌یې ایسارې نه شوې اوڅو څاڅکی‌یې په ګریوانه کښې توی شوو.

ماوې. ته‌لیو نی یې لېونی !... دناصر زوی غټ- ډینګ ځوان دی هغه کله دومره ښایست لری؟ بیاته کله‌راایسې په‌دې لوبواخته شوی‌یې؟ ډېره مینه‌مه کړه لیونی به‌شې!....

هغه لږ په قار وویل: «ربه! کوټې یی کنډ والې کړې

چه په مین دلیونی ګومان کوینه»

-«ماته‌دې ښېرا و کړه ؟»

-«نه- هسې خبره....»

-«څه‌خبره- څه‌قیصه‌ده .؟»

-«انډیواله!-مینه‌رښتیا دسړی نه لیونی‌جوړوی- هسې لیونی چه‌خلك دی‌لېونی بولی او دی خلك-دیوانه به‌ده خندد ده به دیوانه- نه‌چه‌زه پخپله مینه لېونې او باد سارشم ته‌زماګران دوست یې- تاته به خپله قیصه و کړم - هرڅه چه کېږی هغه به کیږی- هسې نه‌چه بیابه‌خلك ووایی- پلانکی چرسو اوبنګو لیونی کړی دی- داقیصه مې چاته نه‌ده کړې اوتاته یې کوم:

«ملګریه!ـ شل کاله پخوا ـ زه نوی ځوانی ته رسیدلی وم ـ زه طالب وم ـ مونږ د کډې سره داوړی تیرولو دپاره وزیروته تللی وو. هلته په یو کلی کښې مو کور نیولې و ـ په جومات کښې مې سبق وایه ـ زمونږ کور په وړاندې کوڅه کښې و چیرته چه د کلی داولې کوڅې سر زمونږ کوڅې ته وتلی او یوه سه راهی غوندې وه ـ هلته زمونږ د کوڅې له خوا درڼو او بو یولښتی بهیده.

زه د کورنه جومات ته تلم ـ دلته یوې پیغلې کټوی وینځلې په نکریزو سرو لاسوتو سره یې تور دیګی په شګو مښل. تور اوربل یې په سپین مخ باندې خور وورو. داسې ښکاریدهٔ لکه په تورو وریځو کښې سپینه سپوږمۍ. غټې تورې سترګې یې له حیانه ډکې وې ـ دسروشو ډو ترمنځ یې سپین غاښونه ځلیدل.

زما په تخرګ کښې کتاب و. زه په لاره تیر یدم ـ ماهغې ته و کتل هغې ماته ـ دسترګو یوه غلی اوارام حنګ زمونږ زړونه سره نژدې کړل ـ زه ناارامه شوم بیا د کلی اوجومات ترمنځ مې تنسته کښیښودله ـ دورځې سل ځله به تلم راتلم...

داځل مې کتاب پاتې دی. داځل مې کتابچه هیره ده ـ دا ځل په پنسل پسې راغلی یم ـ داځل ډوډۍ خورم....

مورته مې دارنګه بانې وې...

دهغې دشین کڼاویز کمیس اود سپین سان ګیبی پاجامه وه په کمیسه باندې یې سپینې روپۍ ټك وهلې وې اوپه ډېره سادګۍ کښې یې ساحری پټه وه.

زه به چه خپل کورته راتلم ـ هغه به هم خپل کورته تله راتله...

کله به یې منګی ډکول ـ کله به یې کټوری وینځلې ـ کله به لاهسې ناسته وه لاس اومخ به یې وینځه اودخپل ښایسته مخ ښایست یې زیاتاوه کله به دلښتی غاړې ته ناسته وه منګی به یې په لښتی ایښی و ـ په یولاس به یې منګی دغاړې نه نیولی واوپه

بل به‌یې منګی ته‌او به اچولې هغه‌ته به‌یې نه کتل چه‌او به چیرته توییږی اوماته به‌یې کتل ...

دهغې دتورو سترګو او په‌غلاغلا ځیرځیر کتلو اثر- دهغې دتندې دشنه خال داغ او دهغې دګلابي مخ- سروشونډ واوتور اوربل رنګین خیال تراوسه زماپه فکر او خیال لوبې کوی.

اندیواله!- په کتاب اوسبق نه‌پوهېدم دمستخلص په‌رقایه کښی مې دا لندی په هماغه وختونو کښې لیکلی دی.

طالبه خدای که به ملا شې

په کتاب پروت یې‌بادوې شینکی خالونه

منګی‌یې‌ټول په‌ډنډ غوپه کړه

د یارانې منګی‌به لپو ډ کو ینه.

ملاوعالم نه‌شوم-سبق‌رانه پاتې‌شو-زه‌جاهل پاتې‌شوم اوستاخبره‌لیونی-دهغه دشنه‌خال له‌لاسه مې‌تراو سه زړه شین دی.. »

ماویل-«بیاڅنګه‌شو؟ »

هغه‌ویل: -«زمونږ ټولې‌خبرې- رازونیاز- دزړه حا لونه - ارزو اوتمنا به په‌سترګووه. د پښتنو اوحیا پیره‌دار انو مو نږ ته مو قع را نکړه چه بودبل نه «کړ» واورو.

په‌ډیره اشنایی کښې نااشنا پاتې شوو- په‌ډیر نژدیوالی کښې سره‌لیرې پاتې شوو. زماپه زړه کښې څو ځله تیره شوه چه پلار ته مې وایم چه که را ته ښځه کوې نوهمداجینی دې راته‌و کړی په‌عباراتویې پوه‌نه شوم -دزړه رازمې‌ونه‌ویلی شوای-تقدیر هغه بل‌چاته وسپارله‌او په‌سبایې مونږهم کوچ و کړ-زما په‌زړه کښې

هغه اوربل دی- کله دپښ د کورې غوندی تازه شی او کله خوږ لن شی.

هغه تور خور اوربل- هغه تورې غټې سترګې- هغه نرۍ سرې شونډې- هغه سور اوسپین مخ هغه دغلاموسکا او دسپینو غاښو نوځلا- هغه په سترګو دزړه حبرې- هغه د ښکلا بت او د مینې تصویر- هغه دښاپیرو تازولې هغه ښکلې پیغله مې ته بیا ولیدله او نه به یې ووینم. خیال یې په مغزو او دردیې په زړه کښې ساتم- چیرته چه هغې ته ورته څه ووینم بیا نو زړه راته ځی او فکر مې خراب شی.

دګو درونو او لښتیو په غاړو هغه راپیاد یږ ی،

دوطن په ښکلو درو او د لویو کلیو په اوږدو او کږو کوڅو کښې مې هغه مخې ته ودریږی. ددې ښکلی وطن خاورې خزلې راته ښکلی ښکاری ورسره مینه لرم ځکه چه هغه پکښې پیدا شوې او لویه شوې ده- هغه پکښې اوسی او زه یې پکښې وینم.

دغه ځوان هلك چه اوسپنه یې ټکوله- د هغې ځو ی دی دده په خورو څڼو سروشونډو او تورو سترګو کښې ما پخپله هغه ولیدله.

ددغه زلمی کارګر په ټنډه شین خال او په هغه باندې روانې خولې د پسر لی په هغه ګل باندې پرتې پرخې رایادې کړې چه دهغه بیلتانه په اغزی زما زړه زخمی شوی او وینې ترې څاڅی ... » کلی ته ورسیدو...

هغه په خپله کوڅه ولاړ اوزه پخپله ...

دمخې ښې په وخت یې وویل: دهغه کلی کوڅې هم دغسې وې خودلته هغسې درڼو اوسپینو او بوروان لښتی او هغه دګلو ناز که لښته نشته...»

ماچه کتل زما دملګری په سپیره مخ او ښکو لښتی جوړ کړی وو...

(پای)

پته

غازی واټ، شمالی برخه، نوی ښار

کابل ـ افغانستان

د پښتو ټولنې د رئیس

دتلیفون لمبر ۲۰۳۵۰

د کابل مجلې دتلیفون لمبر (۲۱۲۹۱

داشتراک بیه

«په افغانی»

په کابل کښې ۴۰

د هېواد په نورو برخو کښې ۴۶

زده کوونکو ته نیمه بیه :

۱ـ کابل ۲۰

۲ـ اطراف ۲۳

د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره

دیوې کښې بیه : ۴

د شپږو میاشتو اشتراک هم منل کېږي

د پښتو ټولنې د جاری حساب المبر په افغانستان بانک

او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراک بیه په اداره کښې هم اخېستل کېږي

KABUL

Monthly Journal Of The

Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy

Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy.....: Gul Pacha Ulfat

Editor : M. Sidiq Rohi

Coeditor : M. Moman Patwal

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه